جمعية خدمة المحتوى
الإسلامي باللغات

منهج الصف الثالث الإبتدائي - توحيد اوفقه

بشتو | پښتو

درسي نصاب

دريم ټولګی

توحيد اوفقه



ح جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات ، ١٤٤٧ هـ

جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات

منهج الصف الثالث ابتدائي التوحيد والفقه - بشتو. / جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات - ط ١. - الرياض ، ١٤٤٧ هـ

١٠٦ ص ؛ ..سم

رقم الإيداع: ١٨٠٧٣ /١٤٤٧

ردمك: ١ -٣٠٠-٥١٧-٦٠٣-٩٧٨

لنډه کتنه

دا علمي مضمون په سعودي عربستان کې د زده کونکو لپاره د تعلیمي نصاب اصلاح شوی لنډیز او غورچاڼ دی چې په بېلابېلو سویو ویشل کیږي، په دې کې یو مضمون توحید ته ځانګړی شوی چې دولس (۱۲) سویې لري. هغه اړین موضوعات او مسائل چې په دریمه سویه کې راوړل شوي په لاندې ډول دي: د دین د درې ګونو مرتبو بیان چې عبارت دي له: اسلام، ایمان او احسان څخه، او د دې له مخې یې

- تعریف او د معناګانو تشریح یې
- د اسلام د پنځګونو ارکانو راوړل چې هر رکن معنا شوی او تشریح شوی او د قران او سنت څخه پرې دلایل راوړل شوي دي
- د ایمان د شپږګونو ارکانو راوړل چې هر رکن یې معنا شوی او تشریح شوی او د قرآن او حدیث دلایل پرې راوړل شوي دي
- د هغه چا د حکم بیانول چې د اسلام او ایمان د ارکانو څخه له یو څه نه هم انکار وکړي
- د احسان د مرتبې فضیلت او لوړه مرتبه بیانول

دريمه سويه

پيليزه

الحمدُلله الذي عَلَّم بِالقَلَم، علَّم الإنسانَ ما لم يَعْلَم، والصَّلاةُ والسَّلام على النَّبِيِّ الأُمِّيِّ الكَريمِ الذي بَعَثَه اللهُ لِيُخرِجَ النّاسَ مِن الظُّلمات إلى النُّور، أمّا بعد

د الله جل جلاله توحيد هغه واجب دی چې د نورو واجباتو په پرتله پرې زيات ټينګار شوی او پرې پوهېدل تر ټولو عزتمند او غوره علم دی، دا هغه بنسټ دی چې د عملونو صحت او قبليدل پرې بنا دي، او بندګان ورته تر هر څه زياته اړتيا لري؛ ځکه چې د زړونو لپاره هيڅ ژوند، خوشحالي او سکون نشته، پرته له دې چې خپل رب، معبود او پيدا کوونکی ذات د هغه په نومونو، صفتونو او افعالو سره وپيژني

او لکه څرنګه چې په دين کې پوهه تر لاسه کول، او د عبادتونو د ادا کولو په څرنګوالي پوهېدل لکه: طهارت، لمونځ او لدې دواړو پرته نور د نيکبختۍ علامې او د دې خبرې نښه ده چې الله تعالی خپل دې بنده ته د خپر اراده کړې ده، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:« **مَن يُرِد اللهُ بِه خيراً يُفَقِّهه في الدِّينِ** »([۲]) **چا ته چې الله تعالی د خپر اراده وکړي، هغه ته په دين کې پوهه ورکوي**»بخاري» په کتاب العلم؛ باب من يرد الله به خيرا يفقهه فی الدين کې ۷ شمېره راوړی دی

نو له همدې کبله د ټولنو د پوهاوي بنسټ د توحید د مضمون په تدریس ټینګار کوي، تر څو زده کوونکي په سمه عقیده وروزل شي، فقهي احکام زده کړي او په مشروع ډول عبادتونه ادا کړي او په ديني چارو کې روښنايي او بصیرت ولري

او وروسته له دې چې زده کوونکي د دویمې سویې د توحید په مضمون کې درې ګوني هغه اصول وپیژندل چې پر انسان يې پیژندل واجب دي، نو ورته ښايي چې په دې سویه کې د دین درې ګوني مرتبې په تفصیل سره زده کړي؛ تر څو په لوړ همت سره یوه د بلې پسې مرتبې وپیژني، او د الله تعالى خوښي تر لاسه او جنت يې وګټي

او د مضمون ماهیت ته په کتلو د هر لوست لپاره په لنډه او واضحه توګه ځانګړې موخې ابښودل شوی، په موضوعاتو کې يې تدریج په پام کې نیول شوی او د هر لوست لپاره پوښتنې او د ښوونکي لپاره لارښوونې شتون لري چې په رښا کې يې ټاکل شوې موخې تر لاسه شي،ښوونکي ته دا لارښوونې

الله تعالى ته اخلاص د عمل د قبلیدو شرط دی، نو عمل دې خاص د پاک الله لپاره وګرځوه چې په دنیا او اخرت کې يې ګټه وویني

امانت ساتل د خلاصون لاره ده - ښوونکی وروره - ته د اسلام له سنګرونو څخه پر یو سنګر کې يې، او د مسلمانانو د اولادونو په عقلونو او فطرت امانتدار يې، نو د امانت ساتنه وکړه چې په دنیا او اخرت کې کامیاب شې

3 د توحید د مضمون زده کړه له غوره عملونو څخه ده، نو له دې پرته د بندګانو لپاره سمونتیا نه شته او نه د دنیا له خواری او د آخرت له عذابه د توحید له پېژندنې پرته خلاصون شته، نو د زده کوونکو په نفسونو کې د سمې عقیدې په کښت کې زیار وباسه، ریښتینی ترجمان او د هغه څه لپاره ژوندی بیلګه اوسه چې بلنه ورته کوې

4 د الله تعالی د وحدانیت او د هغه د قدرت د بیانولو لپاره له حالاتو ګټه پورته کړه، (د بیلګې په توګه) کله چې وربځې د اسمان په زړه راخپرې شي، بریښناګانې وپرقیږي او غراری شي، بارانونه واوریږي او داسې نورې پېښې په مسلمانانو کې د ایماني خوځښت لپاره غنیمت وګڼه

5 د مثالونو په ورکولو سره د موضوع اسانه کول او لوست ته له واقعیت سره تړاو ورکول له مضمون سره د زده کوونکو د مینې په پیدا کولو کې ستر رول لري، چې بیا یې زده کوي او عمل پرې کوي، او په پای کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې وینا سره زیری درکوو چې فرمایي:« إنّ ممّا یلحَق المؤمن مِن عَمَلِهِ وحَسَناته بعد مَوْتِه عِلْماً علَّمَه ونَشَره»د«مؤمنانو له عملونو او نیکیو څخه چې کوم شی له مرګ نه وروسته هغه تهرسیږي؛ هغه علم دی چې زده کړی یې دی او خپورکړی یې دی».([3])ابن ماجه په ۲۴۲ شمیره روایت کړی نو د خپلې زده کړې او عمل میوې راټولولو ته بیړه وکړه

د توحید نصاب

موضوع	مخ
لومړی لوست: په دویمه سویه کې د لوستل شوو درسونو تکرار	۷
دویم لوست: د دین مرتبې (لومړۍ مرتبه: اسلام)	۸
دریم لوست: د اسلام بناوې	۹
څلورم لوست: لومړی رکن: ګواهي ورکول چې له الله پرته بل حق معبود نشته او دا چې محمد د الله رسول دی (أ) ګواهي ورکول له الله پرته بل (حق) معبود نشته	۱٤
پنځم لوست: (ب)ګواهي ورکول چې محمد - صلی الله علیه وسلم دالله رسول دی	۱۸
اووم لوست: د دین مرتبې (دویمه مرتبه: ایمان)	۲٦
نهم لوست: د ایمان ارکان (لومړی رکن: په الله تعالی ایمان)	۳٦
لسم لوست: دویم رکن: په ملایکو ایمان	٤۲
یوولسم لوست: دریم او څلورم رکن: په کتابونو او رسولانو ایمان	٤٦
دولسم لوست: پنځم رکن: د اخرت په ورځ ایمان	۵۰
دیارلسم لوست: شیرم رکن: د تقدیر په خیر او شر ایمان	۵٤
څوارلسم لوست: د دین مرتبې (دریمه مرتبه: احسان)	۵۷

د هغو موضوعاتو تکرار چې په لومړۍ سویه کې لوستل شوي دي



س ۱ هغه درې ګڼي اصول وليکه چې په هر انسان يې پېژندل او پرې عمل کول واجب دي؟

بنده لره خپل ..... پېژندل، بنده لره خپل ..... پېژندل او بنده لره خپل..... پېژندل

س ۲ د ايمان ارکان بشپړ کړه؟

دا چې په الله جل جلاله، د هغه په ..... د هغه په کتابونو د هغه په ..... ، د اخرت په ورځ او ..... په اندازه (تقدير) ايمان ولرې

س ۳ لاندې پوښتنې ځواب کړئ؟

أ د اسلام لومړی رکن څه شی دی؟

.....


ب وروستی پېغمبر څوک دی؟

.....

ج احسان څه ته وايي؟

.....

د دين مرتبې (٥)



لومړی مرتبه

اسلام

د دین مرتبې (۵)

د اسلام د معنا تشریح

- الله تعالی ته په یووالي غاړه ایښودل: یعنی الله تعالی په عبادت سره یو کړل.
- په پیروی سره هغه ته غاړه ایښودل: یعني هغه څه کول چې الله پرې امر کړی وي او د هغه څه پریښودل چې منع یې ترې کړي وي.
- له شرک او مشرکانو څخه بیزاري: یعني له شرک څخه کرکه کول، پر بطلان یې باور درلودل او له مشرکانو کرکه کول.

*څوک چې نیک عملونه وکړي په دنیا کې به پاکیزه او سوکاله ژوند ولري او په اخرت کې به تلپاتې جنتونو ته داخل شي.

د لوست موخې:

- زده کوونکي د اسلام دویم او دریم رکن وښیي.
- زده کوونکی لمونځ په خپل وخت ادا کړي.
- زده کوونکی د لمانځه او زکات د فرضیت دلیل وړاندې کړي.

ښوونکې ته:

- دې خبرې ته اشاره چې دا درې کوني اصول همغه دي چې جبریل علیه السلام یې په اړه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه کړې وه، لکه څنګه چې مسلم په صحیح کې په (۹) شمیره روایت کړی دی.
- دا تشریح کول چې اسلام په لغت کې: د مسالمت څخه اخیستل شوی چې معنا یې د شخړو پرېښودل دي، نو همداسې مسلمان هم د الله تعالی اوامرو ته غاړې ایښودلې، په پیروی سره د هغه تابعدار دی او له شرک او مشرکانو څخه بیزاره دی.
- دا تشریح کول چې الله ته تسلیمیدل او هغه ته په پیروی سره غاړه ایښودل: په دنیا کې پاکیزه ژوند دی (او په اخرت کې) د الله تعالی د خوښۍ لاس ته راوړل، جنت ته داخلیدل او له اور څخه خلاصون دی.
- د خپل قوم سره د ابراهیم علیه السلام د کیسې یادونه، له شرک او مشرکانو څخه یې بیزاري او هغوی سره د دښمنۍ ښکاره کول، او هغه پسې پر اقتدا کولو ټینګار. الله تعالی فرمایلي: (قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِي إِبْرَاهِيمَ وَالَّذِينَ مَعَهُ إِذْ قَالُوا لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَآءُ مِنكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةُ وَالْبَغْضَاءُ أَبَدًا حَتَّى تُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَحْدَهُ) [الممتحنة: ٤]. (په ډېښتیا ستاسو لپاره په ابراهیم او د هغه په ملګرو کې غوره نمونه ده، کله یې چې خپل قوم ته وویل ډېشکه موږ له تاسې او له هغو شیانو چې تاسې یې له الله پرته لمانځئ، بېزاره یو، ستاسې له عقیدې منکر یو او زموږ – تاسې تر منځ د تل لپاره دوښمني او کینه څرګنده شوې تر هغو چې یوازې پر یو الله ایمان راوړئ).
- دا تشریح کول چې شرک او مشرکان بد ګڼل دا معنا نه لري چې له هغوی سره ظلم وشي او تیری پرې وشي، بلکې ښه ده چې نیک چلند ورسره وشي.
۵ - د مشرکانو د بیزارۍ ځینې ډولونه لکه: هغوی بد ګڼل، د هغوی له کلیو هجرت کول، د هغوی له تشبیه څخه ځان ساتل، او د هغه باطلو کړنو بطلان بیانول چې هغوی یې کوي او دا ثابتول چې یوازې اسلام حق دین دی.

پوښتنې

س۱ (دين درې مرتبې لري)، يو ځل يې په ترتيب سره ليکل بشپړ کړه

۱ - ..... ۲- ..... ۳ - احسان.

س۲ د اسلام تعريف ترتيب کړئ، او په تشو ځايونو کې يې وليکئ:

غاړه ايښودل | بې زاره کېدل | له شرک او مشرکانو | الله ته تسليمېدل

په توحيد سره | او د اطاعت له لارې هغه ته

اسلام: الله تعالی ته .....

س۳ لاندې کلمې په مناسب ستون کې وليکئ:

الله تعالی ته سجده کول | الله تعالی رابلل - له الله تعالی پرته بل څه رابلل

له الله پرته بل څه ته سجده کول | د موراوپلارسره نيکي | د موراوپلارنافرماني.

هغه کارونه چې الله تعالی پرې امرکړی الله تعالی رابلل	هغه کارونه چې الله تعالی ترې منع کړې ده له الله تعالی پرته بل څه رابلل
.....	.....
.....	.....

د اسلام رکنونه (۷)



پدې کواهي ورکول چې له الله پرته بل حق معبود نشته
او دا چې محمد صلی الله علیه وسلم د الله رسول دی.



لمونځ کول.



زکات ورکول.

اسلام پنځه ستنې (رکنونه) لري:



د رمضان روژه نیول.



د بیت الله حج د هغه چا لپاره چې توان یې لري.

د اسلام رکنونه [٧]

په دې د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا قول دليل دى:

« بُنِيَ الإسْلامُ على خَمْسٍ: شَهادَةُ أن لا إلَهَ إلّا اللّه، وأنَّ مُحَمَّداً رَسُولُ اللّهِ، وإقامُ الصَّلاةِ، وإيتاءُ الزَّكاةِ، وصَومُ رمَضانَ، وحَجُّ البَيْتِ » [٨].

(اسلام پر پنځو شيانو بنا دى، د دې ګواهي چې له الله پرته د بندګۍ وړ هيڅوک نه شته او محمد د الله رسول دى، لمونځ قايمول، زکات ورکول، د رمضان روژه نيول او د بيت الله حج کول).

بخاري په کتاب الايمان کې په (٨) او مسلم په کتاب الايمان کې په: (٤٥/١). راوړى دى.

اسلام جنت د داخليدو او له اور څخه د بچ کېدو يوازينى لار ده.

د لوست موخې:

- چې زده کوونکى د اسلام د ارکانو دليل ووايي.
- زده کوونکى د اسلام ارکان وشميري.
- زده کوونکى د دې پنځګونو ارکانو ارزښت وښيي.

ښوونکې ته:

- دا تشريح کول چې دا رکنونه هغه بنسټونه دي چې لدې پرته دين نه دريږي، لکه څنګه چې يوه ودانى له بنسټونو او ديوالونو پرته نه دريږي.
- دا بيانول چې په اسلام د منګولو لګولو له کتو څخه يې ځينې لاندې دي:
- د مسلمان د وينې او مال ساتنه؛ رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «أُمِرتُ أن أقاتِلَ النّاسَ حتى يقولوا لا إله إلّا الله، فمَن قال لا إله إلّا الله فقد عَصَم مِنّي مالَه ونَفْسَه إلّا بحَقِّهِ، وحِسابُه على الله». ماته امر شوى چې له خلکو سره تر هغه وجنګيږم چې د دې خبرې ګواهي ورکړي چې له الله پرته بل حق معبود نشته، نو چا چې ګواهي ورکړه چې له الله پرته بل حق معبود نشته زما څخه يې خپل مال او ځان بچ کړ، مګر په (شرعي) حق سره يې او نور حساب يې په الله تعالى دى. بخاري په (٢٩٤٦) شميره روايت کړى.
- د دې خبرې تشريح چې جنت ته د داخليدو او له اور څخه د بچ کېدو يوازينى لار اسلام دى، او الله له ده پرته بل دين نه مني، الله تعالى فرمايلي: (وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ) [آل عمران: ٨٥]. (او څوك چې له اسلام پرته (بل) دين وغواړي، هېڅكله به هم له ده نه قبول نه كړى شي او دغه كس په اخرت كې له تاوانيانو څخه دى).
- د ځينو اوسنيو او پخوانيو هغو خلکو کېسې ذکر کول چې اسلام يې راوړى او د هغوى د نېکبختۍ او په دې لوى دين د ويار کيسې. له عمر رضي الله عنه څخه روايت دى هغه فرمايلي چې: «نحن قَوْمٌ أعزَّنا الله بالإسلام، فإن ابْتَغَيْنا العِزَّةَ في غيرِهِ أذلَّنا الله». «مورږ هغه خلک يو چې الله په اسلام سره عزت راکړى، نو هر کله که مورږ په بل څه کې عزت ولټوه، الله به مو ذليل کړي».

پوښتنې

س١ د اسلام ارکان په لیکلو بشپړ کړئ:

١ - پدې ګواهي ورکول چې له الله پرته بل حق معبود نشته
او دا چې محمد صلی الله علیه وسلم د الله رسول دی.

٢ - ..... ٣ - .....

٤ - ..... ٥ - .....

س٢ لاندې تش ځایونه په لاندې مناسبو کلمو سره ډک کړئ:

پنځه | اسلام | ګواهي ورکول چې له الله پرته بل حق معبود نشته | مسلمان

- له ..... پرته الله تعالی بل دین نه مني.
- په شپه او ورځ کې ..... لمونځونه کوم.
- د اسلام لومړی رکن .....
او دا چې محمد صلی الله علیه وسلم د الله رسول دی.

س٣ د اسلام په ارکانو له سنت څخه دلیل ووایه

- .....
.....
.....

لومړی رکن (۱۰)


لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ

(شَهادَة أن لا إله إلّا اللهُ، وأنَّ مُحمَّداً رَسُولُ اللهِ)

(ګواهي ورکول چې له الله پرته بل حق معبود نشته او دا چې محمد د الله رسول دی).

۱- شَهادَةُ أن لا إلَهَ إلّا الله

ګواهي ورکول چې له الله پرته بل حق معبود نشته.

په (شَهادَةِ أَنْ لا إلَهَ إلّا اللهُ) د الله تعالی دا قول دلیل دی:

(شَهِدَ اللَّهُ أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ وَالْمَلَائِكَةُ وَأُولُو الْعِلْمِ قَائِمًا بِالْقِسْطِ ۚ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ)

(الله ګواهي ورکړي ده د دې خبرې چې یقیناً نشته هیڅ لایق د عبادت مګر هم دی دی او ملایکو او د علم خاوندانو، (هم) په دې حال کې چې دی په انصاف سره قایم دی، نشته هیڅ لایق د عبادت مګر هم دی دی چې ډېرغالب، ښه حکمت والا دی).

[آل عمران سورت: ۱۸] ایت.

لومړی رکن (۱۰)

د : (لا اله الا الله) معنا دا ده چې: له الله پرته بل حق معبود نشته.

*** تر ټولو غوره ذکر؛ لاَ اِلَهَ اِلاَّ اللهُ) دی**

د لوست موخې:

- زده کوونکی د اسلام لومړی رکن وښيي.
- زده کوونکی په : شهادة أن لا اله الا الله دليل ووايي.
- زده کوونکی د: لا اله الا الله معنا تشريح کړي.

ښوونکي ته:

- دا تشريح کول چې چا (لا اله الا الله) وويل، او د دې کلمې په غوښتنه يې عمل وکړ، جنت ته به داخليږي.
- دا تشريح کول چې چا کوم ډول عبادت لکه (دعا) له الله پرته بل چاته وکړ هغه مشرک دی، که څه هم د (لا اله الا الله) کلمه يې ويلي وي؛ ځکه توحيد: په عبادت سره د الله يووالی دی.
- دا تشريح کول چې (لا اله الا الله) د جنت کونجي ده، او هره کونجي خامخا غاښونه لري، او د جنت د کونجۍ غاښونه: د اوامرو پيروي او له نواهيو څخه ځان ساتل دي.
- دا تشريح کول چې د توحيد کلمه (لا اله الا الله) تر ټولو غوره ذکر دی، لکه څرنګه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: « أفضَلُ الذِّكْرِ لا إله إلّا الله ». يعني : لا اله الا الله غوره ذکر دی. ترمذي په (۳۳۸۳) شمېره روايت کړی دی.

دا تشريح کول چې کافران تر ټولو لومړی په: (لا اله الا الله) ګواهۍ ورکولو ته رابلل کيږي، لکه څرنګه چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په حديث کې راغلي چې کله يې معاذ -رضي الله عنه- يمن ته د قاضي او ښوونکي په توګه ولېږه نو هغه ته يې وويل: «إنَّك سَتَأتي قَوْماً مِن أهل الكِتابِ فإذا جِئْتَهُم فادعُهُم إلى أن يشْهَدوا أن لا إله إلّا الله». بخاري په (٤٣٤٧) شمېره روايت کړی، يعني ژر دی چې ته به د اهل کتابو يو قوم ته ورشې، نو کله چې ورغلې دې ګواهۍ ورکولو ته يې راوبله چې له الله پرته بل حق معبود نشته.

- د الله لوړې ته د بلنې فضيلت؛ رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «لَئِن يَهْدِي اللهُ بِك رَجُلاً واحِداً خَيْرٌ لك مِن حُمْرِ النَّعَم». «دا چې الله ستا په وجه يو سړي ته هدايت وکړي، دا ستا لپاره د سرو اوښانو له ګلې څخه غوره دي». بخاري په (۳۷۰۱) او مسلم په (۲٤۰٦) شمېره روايت کړی دی.



س١ د اسلام د لومړي رکن لاندې کرښه کش کړئ:

- لمونځ کول. - د رمضان روژه. - زکات ورکول.
- په لا إله إلا الله، وأن محمدا رسول الله) ګواهي ورکول.
- د بيت الله حج د هغه چا لپاره چې د لارې د ورتللو توان يې لري.

س٢ په (شهادة أن لا اله الا الله) دليل ووايه.

.....

.....

س٣ (لا اله الا الله) څه معنا ؟

.....

.....

س٤ لاندې تش ځايونه ډک کړئ:

لومړی هغه څه چې کافران ورته رابلل کيږی.....

د جنت کونجي .....

پوښتنې

س۵ د خپل ټولګي له ځینې ټولګیوالو سره دې د (لا اله الا الله) د ویلو په فضیلت کې یوه موضوع چمتو کړه.(او خپلو ملګرو ته یې وړاندې کړه.)



ادامه :لومړی رکن (۱۱)

شَهادة أنَّ مُحمَّداً رَسُولُ اللهِ
ګواهي ورکول چې محمد - صلى الله عليه وسلم - دالله رسول دی.

د «شَهَادَةُ أنَّ مُحَمَّداً رَسُوْلُ اللهِ»

معنا دا ده چې په هغه څه کې يې پيروي وشي چې امر يې پرې کړی، په هغه څه کې ريښتونی وګڼل شي چې خبر يې ترې ورکړی او له هغه څه ځان وساتل شي چې منعه يې ترې کړې او کوونکی يې ويرولی [۱۳]، او دا چې يوازې په هغه طريقه د الله عبادت وشي چې هغه روا کړی دی. هغه منع کول چې ملامتول ورسره مل وي له يوازې ويرونې ډير اغيزمن وي.

د لوست موخې:

- چې زده کوونکی په : (شهادة أن محمدا رسول الله) دليل ووايي.
- چې زده کوونکی د (شهادة أن محمدا رسول الله) معنا تشريح کړي.
- چې زده کوونکی د رسول الله صلى الله عليه وسلم له مخالفت څخه ډډه وکړي.

ښوونکې ته:

- په هغه څه کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د اطاعت واجبوالی چې هغه پرې امر کړی دی، الله تعالى فرمايلي: :(وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانتَهُوا) [الحشر: ۷]. (او رسول چې تاسو ته څه درکړي، نو هغه واخلئ او له څه نه چې هغه تاسو منع کړي ياستئ، نو تاسو ترې منع شئ).
- په هغه څه کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په ريښتينولې ټينګار چې هغه يې په اړه خبر ورکړی دی او د هغو غيبي چارو څخه چې هغه يې په اړه خبر ورکړی لکه: د قيامت راتلل، جنت او دوزخ دي.
- د رسول الله صلى الله عليه وسلم له مخالفت څخه ويرول، ځکه چې الله تعالى د دوزخيانو په اړه د هغوی د پښېمانتيا يادونه کړې او پدې اړه يې د هغوی د تفريط يادونه کړې ده لکه چې فرمايي: (يَوْمَ تُقَلَّبُ وُجُوهُهُمْ فِي النَّارِ يَقُولُونَ يَا لَيْتَنَا أَطَعْنَا اللَّهَ وَأَطَعْنَا الرَّسُولَا) [الأحزاب: ٦٦]. په هغې ورځ کې چې د دوی مخونه به په اور کې اړولی راړولی شي، دوی به وايي: ای کاشکي مونږ ! د الله اطاعت کړی وی او د رسول اطاعت مو کړی وی.
- د الله تعالى د حکم له مخې د عبادت په فرضيت تاکيد کول په هغه څه کې چې الله روا کړي دي، نو په دين کې به د الله له اجازې پرته نوښت نه کيږي، لکه د: اسراء او معراج لمانځل، د پېغمبر صلى الله عليه وسلم د زوکړې ورځ (مولود) لمانځل، د مور ورځ او داسې نور مناسبتونه لمانځل، ځکه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: « وكلُّ بِدْعَة ضَلالَة » مسلم په (٨٦٧) شمېره روايت کړی، يعنې او (په دين کې) هر نوښت ګمراهي ده.
- د دې خبرې وضاحت چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره ريښتيني مينه د هغه پيروي او ورپسې د اقتداء کولو غوښتنه کوي.
- د رسول الله صلى الله عليه وسلم د سيرت ځينې ماخذونه بيانول لکه د شيخ محمد بن عبدالوهاب رحمه الله ليکنه: مختصر سيرة الرسول صلى الله عليه وسلم)..

ادامه :لومړی رکن (۱۱)

په (شَهادَةِ أَنَّ مُحَمَّداً رَسُولُ اللَّهِ) د الله تعالی دا قول دلیل دی:

(مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَكِن رَّسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ وَكَانَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا)

مُحَمَّدٌ ستاسو په سړیو کې د هیچا پلار ندی او لیکن د الله رسول او د نبیانو (د لړی ختموونکی دی او الله په هر شي ښه عالم دی).

[الأحزاب سورت: ٤٠ آیت].

د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ریښتینی محبت (انسان) د هغه پیروی او ورپسې اقتداء کولو ته اړباسي.



پوښتنې

س١ (شهادة أنَّ محمداً رسول الله) څه معنی؟

. . . . . .

. . . . . .

س٢ لاندې تش ځایونه لکه د لومړۍ کرښې په څېر ډک کړئ:

أ - رسول الله صلی الله علیه وسلم مور ته د الله په پیروۍ امر کړی او د هغه له نافرمانۍ څخه یې منع کړي یو.

ب- رسول الله صلی الله علیه وسلم مور ته په توحید امر کړی او له ..... څخه یې منع کړي یو.

ج – رسول الله صلی الله علیه وسلم مور ته د رښتیا ویلو امر کړی او له ..... یې منع کړي یو.

س٣ په (شَهادِةِ أَنَّ مُحَمَّداً رَسُولُ الله) دلیل ووایه.

. . . . . .

. . . . . .



س۴ د (أ) د ستون جملې د (ب) د ستون له مناسبو جملو سره ونښلوئ:

د (شهادة أن محمدا رسول الله) معنا:

د (أ) ستون	د (ب) ستون
د هغه اطاعت کول	له هغه څه نه یې چې منع کړې ده.
او هغه ریښتینی ګڼل	په هغه څه کې چې خبر یې تري ورکړی.
او هغه ریښتینی ګڼل	په هغه څه کې چې خبر یې تري ورکړی.
او ځان ساتل	په هغې طریقې چې هغه روا کړې ده.
اودا چې عبادت ونه شي مګر په	چې هغه پرې امر کړی


س۵ په نبوي سیرت کې خپلو ملګرو ته د یو کتاب د لوستلو سپارښتنه وکړه

.....

.....

اووم لوست

دويم او دريم ركن (١٥)



د (إقامِ الصَّلاةِ) معنا:

په ټاکل شوو وختونو کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د طريقې سره سم د پنځه وخته لمونځونو په ادا کولو سره د الله تعالى عبادت کول.

د لوست موخې:

- زده کوونکي د اسلام دويم او دريم رکن وپيژني.
- زده کوونکی لمونځ په خپل وخت ادا کړي.
- زده کوونکی د لمانځه او زکات د فرضيت دليل وړاندې کړي.

ښوونکې ته:

- په خپل وخت د لمانځه په ادا کولو پابندي، او دا په ډاګه کول چې لمونځ پريښودونکی کافر دی، رسول الله (صلى الله عليه وسلم) فرمايلي: «العَهْدُ الذي بينَنا وبينهم الصَّلاة فَمَن تَرَكها، فقد كَفَر». أحمد (٣٤٦/٥) روايت کړی. يعنې «زموږ او د هغوی تر منځ ټرون لمونځ دی، نو چا چې لمونځ پريښوده کفر يې کړی دی».
- د دې وضاحت چې زکات په مال کې د برکت سبب او د فقيرانو او مسکينانو د تسکين لامل ګرځي او دا چې د زکات نه ورکول له اسمان څخه د باران وريدو د مخنيوي لامل ګرځي.

دویم او دریم رکن (۱۵)

د (إيتاءِ الزَّكاةِ) معنا:

د زکات په ویستلو او اړمنو خلکو ته په ورکولو سره د الله تعالی عبادت کول.

د لمانځه او زکات دلیل د الله تعالی دا قول دی:

(وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَارْكَعُوا مَعَ الرَّاكِعِينَ)

(او تاسو لمونځ قایموئ او زکات ورکوئ او له رکوع کوونکو سره رکوع کوئ)

[البقرة: ٤٣].

د هغه چا په اړه حکم چې د لمانځه او زکات له فرضیت څخه انکار کوي:

هغه په الله تعالی کافر دی.

* زه په خپل وخت د لمانځه په اداء کولو پابندي کوم او پدې پوهیږم چې د زکات نه ورکول له اسمان څخه د باران وریدو د مخنیوي لامل ګرځي.

پوښتنې

س١ د (أ) د ستون جملې د (ب) د ستون له مناسبو جملو سره ونښلوئ:

د (أ) ستون	د (ب) ستون
لمونځ کول	د اسلام لومړی رکن
زکات ورکول	څلورم رکن
ګواهي ورکول چې له الله پرته په حقه بل معبود نشته او محمد-صلی الله علیه وسلم- د الله رسول دی.	دویم رکن
د رمضان د میاشتې روژه نیول	دریم رکن

س٢ د لمونځ کولو او زکات ورکولو د فرضیت دلیل ووایه.

.....

.....



س٣ په لاندې آيت کې د اسلام د ارکانو لاندې کرښه کش کړئ:

الله تعالى فرمايلي:
(وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ ۚ وَذَٰلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ)

{او هغوی ته (هم) د بل څه امر نه و شوی، پرته له دې چې الله ولمانځي، په داسې حال کې چې هغه لره د خپل دین سوچه کوونکي حق پلوي اوسي، لمونځ دې ترسره کوي، زکات دې ورکوي او همدا سم صحیح دین دی}.[البينة سورت: ٥ آيت].

س٤ خپل ملګري ته په دوو کرښو کې یو پیغام ولیکه او لمانځه ته یې پکې وهڅوه.

بسم الله الرحمن الرحيم.

زما ورور ته:

.....

.....

.....

.....

.....

.....

.....

.....

السَّلامُ عليكم ورحمةُ الله وبركاتُه.


اتم لوست

څلورم او پنځم رکن (۱۷)

د رمضان روژه



د بیت الله حج د هغه چا لپاره
چې د لارې د ورتلو وس يې ولري



د روژې معنا:

د سهار له راختلو څخه تر لمر لوېدو پورې د خوراک، څښاک او نورو شیانو په پریښودلو سره د الله تعالی عبادت کول.

د لوست موخې:

- زده کوونکی د اسلام څلورم او پنځم رکن وښيي.
- زده کوونکی د رمضان د میاشتې د روژې فضیلت بیان کړي.
- زده کوونکی د روژې او حج د فرضیت دلیل ووایي.

ښوونکې ته:

- د رمضان د میاشتې روژې نیولو ته هڅونه او د هغې د فضیلت بیانول، کوم چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له دې وینا اخیستل شوی چې فرمایي: « مَن صام رَمَضان إيماناً واحْتِساباً غُفِرَ له ما تَقَدَّم مِن ذَنْبِه » بخاري په (۳۸) او مسلم په (۷٦۰) شمیرو روایت کړی دی، یعنې «چا چې د رمضان روژه د ایمان او ثواب په نیت ونیوله، د هغه کس مخکیني ګناهونه بخښل کیږي.
- د دې خبرې یادونه چې حج په عمر کې یو ځل په هغه چا فرض دی چې وسه يې ولري.
- د مسلمانانو په زړونو کې د بیت الله مکانت او منزلت بیانول.

څلورم اوپنځم رکن (۱۷)

دلیل پرې د الله تعالی دا قول دی:

(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ)

(اې هغو کسانو چې ایمان پې راوړی دی! پر تاسو باندې روژه فرض کړی شوې ده لکه چې فرض کړی شوې وه پر هغو کسانو چې له تاسو نه مخکې وو، د دې لپاره چې تاسو متقیان شئ)

(البقرة: ۱۸۳) آیت.

د بیت الله د حج معنا:

په تاکلي وخت د ځانګړو اعمالو لپاره د عبادت په نیت د الله تعالی د سپېڅلي کور (کعبې) په لور تللو ته (حج وایي).



څلورم اوپنځم رکن (۱۷)

د (حج په فرضیت) د الله تعالی دا قول دلیل دی:

(وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا)

(او د الله لپاره پر خلکو د دې کور حج (لازم) دی، څوك چې هغه ته د لارې وس پیدا کړي)

[آل عمران: ۹۷].

د هغه چا حکم چې د روژې او حج له فرضیت څخه انکار وکړي:


هغه په الله سبحانه وتعالی کافرشوی دی.

*رسول الله صلی الله علیه وسلم به خپلو اصحابو ته د روژې د مبارکې میاشتې د راتلو زیری ورکاوه او ویل به یې چې دا داسې میاشت ده چې د جنت دروازې پکې خلاصیږي او د دوزخ دروازې پکې بندیږي.



پوښتنې

س ۱ تش ځایونه په مناسبو (کلمو) سره ډک کړئ.



س ۲ د (أ) د ستون جملې د (ب) د ستون له مناسبو جملو سره ونښلوئ:

پوښتنې

د (أ) ستون	د (ب) ستون
مسلمانان د ..... په میاشت کې فرضي روژې نیسي.	ذوالقعده
مسلمانان د حج فریضه د ..... په میاشت کې ادا کوي.	رمضان
	ذوالحجة

س ۳ الله تعالى فرمايلي:(لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ (٣)تَنَزَّلُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِم مِّن كُلِّ أَمْرٍ (٤)سَلَامٌ هِيَ حَتَّىٰ مَطْلَعِ الْفَجْرِ)

(د قدر شپه له زرو میاشتو نه غوره ده).(په دغه (شپه) کې (نور) ملایك او روح (جبریل) د خپل رب په حکم سره نازلیږي لپاره (د پوره کولو) د هر (مقرر شوي) کار).(هغه (توله) سلامتیا ده تر سهار راختلو پورې) [القدر: ۳-۵].

أ د قدر شپه په کومه میاشت کې وي؟

.....

ب د قدر د شپې فضیلت بیان کړئ؟

.....

پوښتنې

س۴ د حج د فرضیت دلیل ووایه.

.....

.....

س۶ حج پر مسلمان څو ځلې فرض دی؟

.....

.....

.....



نهم لوست

د دين مرتبې (دويمه مرتبه: ايمان)[۱۹]

د ايمان معنا: په زړه باور، په ژبه اقرار او په اندامونو عمل دی.



د دين مرتبې (دويمه مرتبه: ايمان)[١٩]

*څوک چې له دې شپږو رکنونو څخه له يوه نه هم منکر شي هغه په الله تعالى کفر کړي دى.

* ايمان په طاعت سره زياتيږي او په ګناه سره کميږي.

* زه د هغو طاعتونو په کولو کې بيړه کوم چې ايمان مې زياتوي، او له هغو ګناهونو څخه ډډه کوم چې ايمان مې کموي.

د لوست موخې:

- زده کوونکى د ايمان معنا تشريح کړي.
- زده کوونکى د ايمان شپږګوني ارکان زده کړي.
- زده کوونکى د هغه چا حکم بيان کړى شي چې د ايمان په ارکانو کې له يو څخه منکر شي.

ښوونکې ته:

- د موضوع د پيل لپاره د دين د مرتبو يادونه.
- د ايمان له شپږو ارکانو څخه له يو نه د منکريدونکي کفر.
- د نيکو عملونو زياتوالي ته هڅونه، ځکه چې دا د ايمان د زياتوالي او پياوړتيا لامل دي، لکه څرنګه چې الله تعالى فرمايلي: ﴿ إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴾ [الأنفال: ٢]. (بېشکه مومنان هغه خلک دي، چې کله الله ياد کړى شي، نو د دوى زړونه ووېرېږي او کله چې دوى ته د هغه (الله) آيتونه تلاوت کړى شي، (نو) دغه (آيتونه) دوى ته ايمان ورزيات کړي او خاص په خپل رب باندې دوى توکل کوي).
- د ګناهونو او سرغړونو څخه وېرول؛ ځکه دا د ايمان د نيمګړتيا او کمزورى لامل دي، لکه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي چې: « ... ولا يَسْرِقُ السّارق حين يَسْرِقُ وهو مُؤْمِن » بخاري په (٥٥٧٨) شمېره روايت کړى دى، « ... يعنې او هيڅ غل د غلا پر مهال، (بشپړ) مؤمن نه پاتې کيږي».
- د ايمان په زياتوالي او کموالي دليل وړاندې کول لکه څرنګه چې ځينو سلفو ويلي: "کله چې مور خپل رب ياد کړو او له هغه څخه ووېرېږو، نو دا د ايمان زياتوالى شو، او کله چې ترې غفلت وکړو، هير يې کړو او ضايع کړو نو دا يې نقصان او نيمګړتيا ده. "الأنبياء أخوة لعلات أمهاتهم شتى ودينهم واحد"». «پېغمبران لکه د ناسکه ورونو په څېر دي چې مورګانې يې جلا خو دين يې سره يو دى».

پوښتنې

س ۱ ایمان څه معنا ؟

. . . . . .

. . . . . .

س ۲ د لمونځ کولو او زکات ورکولو د فرضیت دلیل ووایه.

دا چې په الله تعالی	د هغه په کتابونو
د آخرت په ورځ	د هغه په ملایکو
د هغه په پېغمبرانو	او د خیر او شر په برخلیك ایمان ولرې



پوښتنې

س۳ په لاندې جدول د (أ) د ستون مناسبې کلمې د (ب) د ستون له مناسبو کلمو سره ونښلوئ

د (أ) ستون	د (ب) ستون
لمونځ کول	د اسلام لومړی رکن
د زکات ورکول	څلورم رکن
ګواهي ورکول چې له الله پرته په حقه بل معبود نشته او محمد-صلی الله علیه وسلم- د الله رسول دی.	دویم رکن
د رمضان د میاشتې روژه نیول	دریم رکن

س۴ لاندې تش ځایونه ډک کړئ:

ایمان په زړه کې باور ساتل، په ..... اقرار کول

او په ..... عمل کولو ته وایي

چا چې د ایمان له شپږو رکنونو څخه له یوه نه هم انکار وکړ هغه ..... دی

لسم لوست

لومړی رکن (په الله تعالی ایمان)[٢١]

په الله تعالی د ایمان معنا:

الله تعالی په ربوبیت، الوهیت، نومونو او صفتونو کې یو ګڼل.

په ربوبیت کې د الله تعالی د یو ګڼلو معنا:

یعني پدې اقرار کول چې الله تعالی یوازې خالق، روزي ورکوونکی، او له هر چا پرته چاره ساز دی.

د لوست موخې:

- چې زده کوونکی په الله تعالی ایمان تشریح کړي.
- چې زده کوونکی له الله پرته بل چاته د یو ډول عبادت له کولو څخه ځان وساتي.
- چې زده کوونکی د الله تعالی ځینې نومونه او صفتونه زده کړي.

بسوونکې ته:

- دا تشریح کول چې - د بنده د مسلمانیدو لپاره دا بسنه نه کوي چې - الله تعالی یوازې په ربوبیت کې په یووالي سره ومني، بلکې په الوهیت کې به یې هم خامخا یو ګڼي، ځکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د زمانې مشرکانو الله تعالی په ربوبیت سره منلو، خو بیا یې هم هغوی ته بسنه ونه کړه چې اسلام ته پرې داخل شي، سره له دې چې ځینې عبادتونه یې هم کول لکه: حج، عمره، حاجیانو ته اوبه ورکول او د بیت الله طوافونه؛ ځکه کله چې هغوی د الله سره شرک وکړ، نو عملونه یې برباد شول.
- دې ته پام راړول چې څوک الله تعالی په الوهیت کې په یووالي سره ونه مني، نو هغه لوی شرک وکړ، د کوم لپاره چې الله تعالی داسې سزاګانې تاکلي دي چې د بلې هیڅ ګناه لپاره یې ندي تاکلي، الله تعالی فرمایلي:
﴿ إِنَّهُ مَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَأْوَاهُ النَّارُ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنْصَارٍ ﴾ [المائدة: ٧٢]. (بېشکه خبره دا ده چې څوک له الله سره شریک نیسي، نو یقینًا په هغه باندې الله جنت حرام کړی دی او د هغه استوګنه اور دی او د ظالمانو لپاره هیڅوک مدد کوونکی نشته).
- د الله تعال په نومونو او د هغه په صفتونو ایمان درلودل د ایمان د زیاتوالي لامل ګرځي، نو چا چې په دې ایمان راوړ چې الله تعالی پوه څارونکی دی، نو د حرکاتو او سکناتو پر مهال یې په زړه کې تل د الله د څار احساس وي.
- د دې خبرې وضاحت چې د الله تعالی له ځینې نومونو او صفتونو څخه انکار کول کفر دی، الله پاک فرمایلي: ﴿ وَهُمْ يَكْفُرُونَ بِالرَّحْمَنِ ﴾ [الرعد: ٣٠]. (یعنې او هغوی په رحمن (ذات) کفر کوي).

لومړی رکن (په الله تعالی ایمان)[۲۱]

-زه مسلمان یم؛ پدې ایمان لرم چې الله پیدا کړی یم، اسمانونه او ځمکه، انسانان او پیریان پې پیدا کړي او له هغه پرته نور هیڅا نه دي پیدا کړي.

-او پدې باور لرم چې یوازې الله دی چې خلکو، مرغانو او څارویو ته روزي ورکوي او له هغه پرته پې بل څوک نه ورکوي.

-او پدې ایمان لرم چې الله تعالی انسانان د دوی له مړینې وروسته راژوندي کوي، لکه څنګه پې چې په لومړي ځل پیدا کړي او له هغه پرته بل څوک دا کار نشي کولی.

په الوهیت سره د الله تعالی د یو ځنځلو معنا:

یعنې: د هر ډول عبادت یوازې الله ته کول لکه د بیلګې په توګه چې یوازې هغه راوبلل شي، او له هغه پرته د بل چا (په نوم) حلاله ونه شي.

-زه مسلمان یم؛ الله ته لمونځ کوم، او له هغه پرته پې بل چاته نه کوم.
-او الله تعالی رابلم، او د هغه سره بل څوک نه رابلم.
-په الله توکل کوم او له هغه پرته پر بل چا توکل نه کوم.

لومړی رکن (په الله تعالی ایمان)[۲۱]

الله تعالی په نومونو او صفتونو سره د یو ځانګړو معنا:

يعني: الله تعالی لره نومونه او صفتونه ثابتول لکه څنګه چې په قرآن کريم او سنت کې راغلي دي، او دا چې په مخلوقاتو کې د هغه په څېر هيڅ شی نشته.

-زه مسلمان يم؛ د الله تعالی په ټولو نومونو ايمان لرم لکه: الرحمن (رحم کوونکی)، السميع (اوريدونکی)، القوي (ځواکمن)، او العليم (پوه او د علم خاوند).
-د الله تعالی په ټولو صفتونو ايمان لرم لکه: الرحمة (مهرباني)، السمع (اوريدل)، القوة (ځواکمنتيا) او : العلم (پوهه).

*** زه مؤمن يم؛ يوازې د الله عبادت کوم.**



پوښتنې

س۱ په الله تعالی ایمان څه معنا کېږي؟

. . . . . .

. . . . . .

س۲ په الوهیت سره الله یو ځنځل تشریح کړه؟

. . . . . .

. . . . . .

س۳ لاندې کلمې ترتیب کړه چې په ربوبیت سره د الله یو ځنځلو معنا ترې جوړه شي.

له بل هر چا پرته خالق دی	چاره ساز دی	او روزي ورکوونکی	چې الله تعالی

الله تعالی په ربوبیت کې د یو ځنځلو معنا: اقرار کول چې .....

.....



س۴ په لاندې آيتونو کې د الله تعالى د نومونو او صفتونو لاندې کرښه کش کړئ:

- **الله تعالى فرمايلي:(أَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ)** [الملك سورت : ١٤ آيت].
(ايا هغه ذات به نه پوهيږي چې يې (هر څه) پيدا کړي دي (ولې نه!)
او هم دى ډېر باريك بين، ښه خبردار دى)

- **الله -تعالى- فرمايلي دي:(إِنَّ رَحْمَتَ اللَّهِ قَرِيبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِينَ)** [الأعراف سورت: ٥۶ آيت].
(بېشكه د الله رحمت نېكي كوونكو ته ډېر نژدې دى)

- **الله -تعالى- فرمايلي دي:(قُلْ إِنَّمَا الْعِلْمُ عِندَ اللَّهِ وَإِنَّمَا أَنَا نَذِيرٌ مُّبِينٌ)** [الملك سورت: ٢۶ آيت].
(ته (دوى ته) ووايه چې بېشكه (د قيامت) علم خو يوازې الله ته دى
او بېشكه زه خو يوازې ښكاره وېروونكى يم)

- **الله -تعالى- فرمايلي دي:(قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ)** [الإخلاص سورت:١ ايت].
(اې نبي) ته (دوى ته) ووايه: شان دا دى چې الله يو دى)

س۵ د الحشر سورت وروستۍ برخه ووايه، او د الله تعالى پنځه نومونه ترې راوباسه.

.....	.....	.....
.....	.....	

پوښتنې

س ۶ لاندې تش ځایونه ډک کړه:

- ایمان لرم چې د الله تعالی له نومونو څخه: لیدونکی، تل پاتې ژوندی، ..... او پوه دي.

أ دلته: د الله تعالی یو نوم دی چې صفت یې په لاندې کرښه کې ذکر شوی دی، هغه کوم یو دی؟

- ایمان لرم چې د هغه له صفتونو څخه : لیدل، .....عزت او علم دي.

ب دلته: په مخکینۍ کرښه کې د الله تعالی یو صفت ذکر شوی دی، هغه کوم دی؟



یوولسم لوست

دویم رکن: پر ملایکو ایمان (۲۳)

په ملاپکو د ایمان معنا:

د ملاپکو په شتون کلک باور ساتل او دا چې الله پاک دوی خپل عبادت ته پیدا کړي دي، او دا چې هغوی د الله نافرماني نه کوي او هغه څه کوي چې امر پې ورته کیږي.

دلیل پي د الله تعالی دا وینا ده:

(آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْهِ مِن رَّبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ ۚ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ)

(رسول پر هغه څه ایمان راوړی دی؛ چې په ده باندې د خپل رب له خوا نازل کړی شوی دی او مومنانو هم، ټولو ایمان راوړی دی په الله باندې او د هغه پر ملایکو او د هغه پر کتابونو او د هغه په رسولانو باندې).

[البقره سورت: ۲۸۵ آیت].

د لوست موخې:

- چې زده کوونکي په ملاپکو د ایمان معنا بیان کړي.
- چې زده کوونکی په ملاپکو د ایمان دلیل ووایي.
- چې زده کوونکی د ځینو ملاپکو نومونه واخلي.
- چې زده کوونکی د هغه چا حکم بیان کړي چې له ملاپکو انکار کوي.

ښوونکې ته:

- دا تشریح کول چې (جبریل علیه السلام) تر ټولو غوره ملایکه ده، او همدی پر هغې وحی مکلف دی چې زړونه پرې ژوندي دي، او (اسرافیل) په شپیلۍ کې په پوکې کولو مکلف دی او (میکائیل) د باران ورولو دنده لري.
- د ملاپکو د ځینو دندو تشریح کول او پر هغوی د ایمان راوړلو اغیزه:

۱ - د عملونو پر لیکنه ګمارل شوې ملاپکې چې دا هم بنده دې ته اړیاسي چې هیڅ داسې وینا او یا عمل ونه کړي چې الله پاک غصه کوي.

۲ - په هر حالت کې د بنده په ساتنې ګمارل شوې، چې دا انسان د الله تعالی شکر ویستلو ته اړیاسي چې پاملرنه ورته لري.

۳ - د بنی آدم په ساه اخیستلو ګمارل شوې ملاپکې، چې دا هم انسان اړیاسي تر څو د آخرت ورځې ته په نیکو کړنو سره چمتووالی ونیسي.

دویم رکن: پر ملایکو ایمان (۲۳)

د ملایکو شمېر زیات دی، او له دوی څخه :



هغه څوک چې له ملایکو انکار: کوي په الله تعالی کافر دی.

* زه ایمان لرم چې ملایکې هغه څوک دي چې د بنده ګانو ښه او بد عملونه لیکي.

پوښتنې

س١ د ایمان له ارکانو څخه (په ملایکو ایمان) دی، نو د دې معنا څه ده؟

.....

.....

س٢ د ملایکو د نومونو لاندې کرښه کش کړئ:

إبراهِيم – جِبريل – مِيكائِيل – محمّد – إسرافِيل.

س٣ د (أ) د ستون جملې د (ب) د ستون له مناسبو جملو سره ونښلوئ:

د (أ) ستون	د (ب) ستون
د ملایکو په شتون	ټینګ باور
او په دې چې الله پاک	او هغه څه کوي چې امر یې ورته کیږی
او دا چې هغوی د الله له اوامرو څخه سرغړونه نه کوي.	الله تعالی خپل عبادت ته پیدا کړي دي

پوښتنې

س۴ د ملاپکو له صفتونو څخه يې دوه وليکئ.

. . . . . .

. . . . . .

س۵ له غوره ملاپکو څخه؟

. . . . . .

. . . . . .



دولسم لوست

دريم او څلورم رکن
(په کتابونو او رسولانو ايمان)

په رسولانو د ايمان معنا:

کلک باور چې الله جل جلاله خپلو مخلوقاتو ته پېغمبران رالېږلي او دا چې هغوی په خپلو ويناوو کې ريښتيني وو.

***د انبياوو بلنه يوه ده چې هغه په توحيد امر او له شرک څخه منع کول دي.**

د لوست موخې:


- زده کوونکی تشريح کړی شي چې په کتابونو او رسولانو د ايمان معنا څه ده.
- زده کوونکی تشريح کړی شي چې قرآن د الله تعالی کلام دی.
- زده کوونکی د هغه چا حکم بيان کړی شي چې له کتابونو او رسولانو څخه منکر وي.
- زده کوونکی تشريح کړی شي چې قرآن کريم د الله جل جلاله له خوا پر محمد صلی الله عليه وسلم نازل شوی دی.

ښوونکې ته:

- پر خلکو د الله جل جلاله د لوريني بيان چې پېغمبران يې ورته رالېږلي او د دوی د لارښوونې لپاره يې کتابونه نازل کړي دي.
- د ځينو کتابونو يادونه چې الله جل جلاله په خپلو پېغمبرانو نازل کړي لکه: تورات او انجيل چې (دواړه) تحريف شوي دي، د قرآن کريم پر خلاف چې الله جل جلاله يې د ساتنې ضمانت کړی دی لکه چې فرمايي: (إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ) [الحجر: ٩] په يقين سره چې دا قران مونږ نازل کړی او مونږ يې يقيني ساتونکي يو.
- د قرآن کريم د فضيلت بيانول او تلاوت او حفظولو ته يې هڅول او پر هغو (حکمونو) يې د عمل وجوب چې پکې راغلي دي.
- دا تشريح کول چې په ټولو رسولانو او انبياوو ايمان راوړل واجب دي او دا چې لومړی رسول نوح عليه السلام او وروستنی يې محمد صلی الله عليه وسلم و او هغه يې تر ټولو غوره پيغمبر دی او دا چې د دوی تر مينځه لوی شمېر پيغمبران راغلي دي چې ځينې يې مورږ پېژنو، او ځينې نور يې نه پېژنو.
- دا بيانول چې ټول پېغمبران پېدا کړی شوي انسانان دي او د ربوبيت او الوهيت له ځانګړتياوو څخه هيڅ يوه نه لري، نه خو په غيبو پوهيږي او نه په کايناتو کې تصرف کولی شي.
- د دې خبرې وضاحت چې چا د نبوت دعوه وکړه هغه کافر دی، او چا چې ريښتينی وګانه هغه هم کافر دی، ځکه له محمد صلی الله عليه وسلم څخه وروسته بل نبي نه راځي، الله تعالی فرمايلي: (مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَٰكِن رَّسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ ۗ وَكَانَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا) [الأحزاب: ٤٠]. (محمد (صلی الله عليه وسلم) ستاسو په سړيو کې د هيچا پلار نه دی او لېکن د الله رسول دی او د نبوت سلسله وربانديې پای ته رسيدلې ده او الله په هر شي ښه عالم دی).
- د خپلو قومونو سره د پېغمبرانو د ځينو کيسو يادونه لکه: د نوح او ابراهيم عليهما السلام کيسې.

دریم او څلورم رکن
(په کتابونو او رسولانو ایمان)

*لومړی رسول نوح علیه السلام او وروستی محمد صلی الله علیه وسلم وو او د دوی په منځ کې ډیری پیغمبران او رسولان وو.
په دوی کې غوره اولو العزم یعني د کلک هوډ خاوندان دي چې پنځه دي.



په کتابونو او رسولانو د ایمان راوړلو دلیل د الله تعالی دا قول دی:

(آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْهِ مِن رَّبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ ۚ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ)

(رسول پر هغه څه ایمان راوړی چې پر ده د خپل رب له خوا نازل کړی شوي او مومنانو هم، ټولو ایمان راوړی دی په الله، د هغه پر ملایکو او د هغه پر کتابونو او د هغه په رسولانو).

[البقره سورت: ۲۸۵ آیت].

*زه مسلمان یم، له قرآن سره مینه لرم، هغه لولم او عمل پرې کوم، او د ټولو پیغمبرانو سره مینه لرم؛ ځکه چې دوی د خلکو د هدایت لپاره زیار ویستلی دی.

پوښتنې

س ۱ تش ځایونه په مناسبو (کلمو) سره ډک کړئ.

تر ټولو ستر کتاب: .....

لومړی پیغمبر ..... دی.

وروستی پیغمبر ..... دی.


س ۲ د پیغمبرانو بلنه یوه ده، هغه کومه ده؟

.....

.....

س ۳ پر کتابونو او رسولانو د ایمان راوړلو د فرضیت دلیل ووایه.

.....



پوښتنې

س۴ د (أ) د ستون جملې د (ب) د ستون له مناسبو جملو سره ونښلوئ:

له هغو کتابونو څخه چې الله جل جلاله په خپلو پیغمبرانو نازل کړي دي:

د (أ) ستون	د (ب) ستون
قرآن کریم الله جل جلاله نازل کړی دی پر:	عیسی علیه السَّلام
انجیل الله جل جلاله نازل کړی دی پر:	موسی علیه السلام
تورات الله جل جلاله نازل کړی دی پر:	محمد صلی الله علیه وسلم

س۵ له خپل ښوونکي سره د اولو العزم رسولانو د نومونو په ترتیبولو کې همکاري وکړئ، هغه ترتیب سره سم چې دوی یو د بل پسې راليږل شوي دي.

عیسی علیه السَّلام ۴

إبراهیم علیه السَّلام

نوح علیه السَّلام

محمَّد صلی الله علیه وسلم

موسی علیه السَّلام

پنځم رکن (د آخرت په ورځ ايمان)[۲۷]

د اخرت په ورځ د ايمان معنا:

په هر هغه څه کلک ايمان چې له مرګ نه وروسته پيښيږي او په قرآن او سنت کې راغلي دي.

دليل يې د الله تعالى دا قول دى:

(وَبِالْآخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ)

(او پر اخرت همدوى يقين لري).

البقرة: ۴ آيت].

د لوست موخې:

- زده کوونکى په اخرت د ايمان درلودلو معنا تشريح کړى شي.
- زده کوونکى ځينې هغه څه وښيي چې د قيامت په ورځ پېښيږي.
- د هغه چا حکم بيان کړى شي چې د آخرت له ورځې منکر وي.

ښوونکې ته:

- دا تشريح کول چې د آخرت ورځ ډير نومونه لري لکه: (يوم القيامة (دقيامت ورځ) القارِعَة (د زړونو تکوونکې ورځ)، الغاشِية (پټوونکې ورځ) الواقِعة (هغه پېښه چې خامخا راتلونکې ده) – الحاقَّة (خامخا واقع کېدونکې ورځ).
- د قيامت ورځې ته د چمتووالي په موخه په زيات عبادت او زياتو نفلونو ټينګار.
- دا تشريح کول چې قبر د آخرت لومړى منزل دى او په قبر کې له بنده څخه پوښتنه کيږي چې: ستا رب څوک دى، ستا دين څه دى؟ او ستا پېغمبر څوک دى؟ نو چا چې ځواب ورکړ په نعمتونو سره به بدله ورکړل شي او چا چې ځواب ورنکړ هغه به په دردناک عذاب سره مجازات شي.
- د الله جل جلاله د عظمت او ځواکمنتيا بيان چې خلک له قبرونو څخه د حساب او بدلې لپاره راباسي.
- د قيامت د ورځې د ځينو وحشتونو يادونه لکه: په شپېلۍ کې پوکى، خلکو ته د لمر نږدې کېدل، د عملنامو خپرېدل، يو کس به خپله عملنامه په ښي لاس او بل به په چپ لاس نيولي وي – پر صراط تېرېدل.
- د جنت د ځينو نعمتونو په يادولو سره د هغو اسبابو يادونه چې انسان پرې جنت ته داخليږي، او د دوزخ د عذاب د ځينو ډولونو په يادولو سره له دوزخ او هغو اسبابو څخه ويرول چې دوزخ ته د تللو لامل ګرځي.
- د الله تعالى څخه د جنت پر غوښتلو او هغو ويناوو او کړنو ټينګار چې انسان پرې جنت ته نږدې کيږي، او په الله تعالى له اور او هغو ويناوو او کړنو پناه غوښتل چې انسان پرې دوزخ ته نږدې کيږي.

د التکوير، الانفطار او الانشقاق سورتونو تلاوت او له موضوع سره ترا وركول.

پنځم رکن (د آخرت په ورځ ایمان)[۲۷]

ځيني هغه کارونه چې له مرګ نه وروسته به پېښيږي.

په قبر کې له بنده څخه د درې ګونو اصولو په اړه پوښتنه چې په لاندې ډول دي:(رب دې څوک دی؟ دین دې څه شی دی؟ او نبي دې څوک دی؟).

د قبر نعمتونه او عذاب.

بعث: له قبرونو څخه د حساب او بدلې لپاره د خلکو راپورته کېدل تر دې چې جنتیان جنت او دوزخیان دوزخ ته لاړ شي.

د اعمالو حساب ورکول.

پنځم رکن (د آخرت په ورځ ایمان)[۲۷]

د هغه چا حکم چې د آخرت له ورځې څخه منکر وي:

هغه په الله تعالی کفر کړی دی.

*زه مسلمان یم؛ په نیکو اعمالو سره د اخرت د ورځې لپاره تیاری نیسم.



پوښتنې

س۱ لاندې عبارت بشپړ کړه:

د اخرت په ورځ ایمان: په هر هغه څه ټینګ باور چې .....پیښیږي.

س۲ دوه هغه کارونه وښیئ چې له مرګ نه وروسته پیښیږي.

.....

.....

س۳ لاندې (جمله) ترتیب کړه چې د بعث (بیا راژوندې کېدو) تعریف ترې جوړ شي.

حساب اوبدلې لپاره	تردې چې جنتیان جنت	له قبرونو څخه	او دوزخیان؛ دوزخ ته لاړشي

بعث : د خلکو راویستل دي .....

س۴ تش ځایونه په مناسبو (کلمو) سره ډک کړئ.

د قیامت د ورځې له نومونو څخه القارعه ..... دي.

س۵ د مرګ نه وروسته له بنده څخه په قبر کې د دریو شیانو په اړه پوښتنه کیږي، هغه وښیه.

.....

.....

شپږم رکن: (د تقدیر په خیر او شر ایمان)[۲۹]

د تقدیر په خېر او شر د ایمان معنا:

په دې کلک باور چې هر څه چې له خېر او شر څخه کیږي هغه د الله په حکم او تقدیر سره کیږي.

دلیل يې د الله تعالی دا قول دی:

(إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ)

(بیشکه مونږ هر شی په (ازلي) اندازی سره پیدا کړی دی)

[القمر سورت : ۴۹ آیت].

د لوست موخې:

- چې زده کوونکی په تقدیر د ایمان معنا تشریح کړي.
- زده کوونکی د هغه چا حکم بیان کړی شي چې له تقدیر څخه انکار کوي.
- زده کوونکی پدې خبره دلیل وړاندې کړی شي چې الله جل جلاله هر څه په (تقدیر) د اندازې له مخې پیدا کړي دي.

ښوونکې ته:

- د الله جل جلاله پریکړو او تقدیر ته تسلیمیدل، دلیل يې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا قول دی : « قَدَّر الله المقادِيرَ قَبْل أن يخلُق السَّماواتِ والأرض بخمسِين ألف سنة» ترمذي په (۲۱۵٦) شمیره روایت کړی. یعنې د آسمانونو او ځمکې له پیدا کولو پنځوس زره کاله وړاندې الله جل جلاله د هر شي تقدیر تاکلی دی.
- د مصیبتونو پر مهال صبر کولو وجوب لکه: د یو دوست مړینه، د مال ورکېدل، په بدن کې ناروغي او داسې نور.
- دا تشریح کول چې په مصیبت په صبر الله جل جلاله اجر ورکوي لکه څنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «ما مِن مُسْلِمٍ يُصِيبه أذى، شَوكة فما فَوْقَها إلا كفَّر الله بها سَيِّئاتِه كما تحطّ الشَّجَرَة وَرَقَها» «هیڅ مسلمان ته ضرر نه رسیږي، که د یو اغزي په اندازه او یا له هغه څخه زیات، مګر دا چې الله تعالی به يې ګناهونه داسې معاف کړي لکه څنګه چې ونه خپلې (وچې)پانې تویوي» بخاري په (٥٦٤٨) او مسلم په (۲٥۷۱) شمیرو روایت کړی دی.
- د الله تعالی په شکر ویستلو ټینګار او دا چې شکر د نعمتونو د زیاتوالي لامل ګرځي لکه څنګه چې الله جل جلاله فرمایلي: (لَئِن شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ) که تاسو شکر وباسئ (،نو) زه به خامخا هرومرو تاسو ته (په نعمتونو کې) اضافه والی راولم [إبراهيم: ۷]..

شپږم رکن: (د تقدیر په خیر او شر ایمان)[۲۹]

د هغه چا حکم چې د تقدیر نه منکر وي:

په الله تعالی يې کفر کړی دی.

* د مصیبت پر مهال وایم: إنَّا للهِ وإنَّا إليه راجِعُون، اللَّهم أجِرْني في مُصِيبَتي، وأخلفني خَيْراً مِنها. ای الله ماته زما په مصیبت اجر راکړې، او (څه مې چې له لاسه ورکړي) له دې غوره راکړې.

پوښتنې

س۱ د تقدير په خېر او شر ايمان څه معنا؟

.....

.....

س۲ په تقدير د ايمان دليل ووايه.

.....

.....

س۳ لاندې تش ځايونه په مناسبو کلمو ډک کړئ:

شکر	کافر	اجر	صبر	نعمت	بي صبري	

د مصيبت پر مهال پر ما واجب دي چې ..... وکړم.

د نعمت په مقابل کې پر ما ..... واجب دي.

چا چې د ايمان له شپږګونو ارکانو څخه انکار وکړ هغه ..... دی.

صبر د ..... د لاسته راوړلو لامل ګرځي.

د الله تعالی شکر د ..... د زياتېدو لامل ګرځي.

پنځلسم لوست

دريمه مرتبه: احسان(۳۱)

د احسان معنا:

چې د الله داسې عبادت وکړې لکه ته يې چې ويني، که چيرته يې ته نه وينې نو هغه خو تا وينې.
او احسان د دين تر ټولو لوړه مرتبه ده.



د لوست موخې:

- چې زده کوونکی د احسان معنی تشريح کړی شي.
- چې زده کوونکی په احسان دليل وړاندې کړی شي.
- چې زده کوونکی په اخلاص سره عبادت ادا کړي.

ښوونکې ته:
- دا بيانول چې احسان: په ظاهر او باطن کې د عبادت بشپړول دي او دا نهايتي اخلاص دی.
- د ځينو کيسو يادونه چې په احسان دلالت کوي لکه: د عمر بن الخطاب رضي الله عنه کيسه چې غوښتل يې يو شپونکی امتحان کړي نو ورته يې وويل: يو پسه راباندې خرڅ کړه، هغه ورته وويل: زه غلام يم. ده ورته وويل: بادار ته دې ووايه چې: ليوه وخوړه، هغه وويل: نو بيا الله چيرته دی؟ دې سره عمر رضي الله عنه وژړل، هغه غلام يې واخيست او ازاد يې کړ. او ورته يې وويل: پدې دنيا کې همدې کلمې ازاد کړې، او زه اميد لرم چې په اخرت کې دې هم ازاد کړي، پدې اړه د زياتو معلوماتو لپاره د ذهبي رحمه الله کتاب: (سير أعلام النبلاء) وګورئ، او بله د غار د خاوندانو کيسه. وګورئ: صحيح البخاري: (۲۲۷۲) او مسلم: (۲۷٤۳).
- د احسان درجې ته يوازې مؤمن مسلمان رسيږي.
- د زده کونکو په زړونو کې له اخلاص سره عبادت کولو ته هڅول او دې ځانګړتيا ته وده ورکول.

دريمه مرتبه: احسان[۳۱]

دليل يې د الله تعالى دا قول دى:

(إِنَّ اللَّهَ مَعَ الَّذِينَ اتَّقَوا وَّالَّذِينَ هُم مُّحْسِنُونَ)

(بېشكه الله د هغو كسانو ملكرى دى چې پرهېزګاري كوي او د هغو كسانو چې هغوى نېكي كوونكي دي).

النحل سورت: ۱۲۸ آيت.

***زه مسلمان يم، پوهېږم چې الله مې اوري او ما ويني، نو د سندرو په اورېدلو او د بدو شيانو په ليدلو يې نافرماني نه كوم.**



پوښتنې

س١ دين درې مرتبې لري، نو لوړه يې کومه ده؟

.....

.....

س٢ احسان تعريف کړه، او دليل يې ووايه.

.....

.....

س٣ لاندې تش ځايونه په مناسبو کلمو سره ډک کړئ.

خارنه	ويني يې	نه پټيږي

- زيد ښه لمونځ وکړ، ځکه هغه پوهيږي چې الله يې .....

- علي هغه څه نه اخلي چې دده پورې اړه نلري، ځکه هغه د الله تعالى په ..... پوهيږي.

- عمر په خبرو کې رښتيا وايې او دروغ نه وايي، ځکه هغه پوهيږي چې له الله تعالى څخه .....
.....

درسي نصاب

فقه

لنډه کتنه

دا علمي مضمون په سعودي عربستان کې د زده کونکو لپاره د تعلیمي نصاب اصلاح شوی لنډیز دی چې په بیلابیلو سویو ویشل کیږي، په دې کې یو مضمون فقهي ته ځانګړی شوی چې دولس [۱۲] سویې لري. تر ټولو هغه اړین موضوعات او مسائل چې په دریمه سویه کې راوړل شوي په لاندې ډول دي:

-د حاجت د رفع کولو د آدابو په اړه خبرې او د استنجا او استجمار د معناوو تشریح، سربیره پر دې د نجاست د لرې کولو طریقې ته پام اړونه.

-د اوداسه د شرطونو او واجباتو بیانول.

-د تیمم طریقه او د تیمم باطلوونکي.

-د فرضي لمونځونو وختونه، شرطونه، ارکان او واجباتو یې بیانول.

د حاجت د رفع کولو ادبونه (۳)

هغه آداب چې یو مسلمان یې باید د حاجت د رفع کولو پر مهال باید مراعات کړي:

۱ تشناب ته د ننوتو پر مهال چپه پښه مخکې کړي او له ننوتلو مخکې ووایي: (اللَّهمّ إني أعوذُ بِك مِن الخبْثِ والخبائِث).
(اي الله زه پر تا له نارینه او ښځینه وو شیطانانو څخه پناه غواړم).
او د راوتلو پر مهال ښۍ پښه مخکې کړي او ووایي : (غُفْرانَك)
یعني: ای الله بښنه وکړې.





۲ تشناب ته د مصحف او داسې نورو شیانو له وړلو ډډه وکړي چې د الله تعالی یادونه پکې شوې وي.



د حاجت د رفع کولو ادبونه (۳)

هغه آداب چې یو مسلمان يې باید د حاجت د رفع کولو پر مهال باید مراعات کړي:

۳ د خلکو له سترګو باید ځان پناه کړي.

٤ قبلې ته له مخامخ کېدلو او یا شا ور اړولو ډډه وکړي.


٥ د حاجت رفع کولو پر مهال خبرې ونه کړي.



د حاجت د رفع کولو ادبونه (۳)



د خلکو لار




د میوه لرونکې ونې لاندې

هغه ځایونه چې حاجت رفع کول پکې منع دي:

ولاړې اوبه





کتور سیوری

د حاجت رفع کولو ادبونه (۳)

په دې ځایونو کې
د حاجت رفع کولو
د ممانعت حکمت:

خلکو ته پرې
ضرر رسیږي

د ناروغیو او بدو
بویونو د خپریدو
لامل ګرځي



د لوست موخې:

- چې زده کوونکی د حاجت د رفع کولو آداب ووایي.
- چې زده کوونکی هغه ځایونه په ګوته کړي چې قضای حاجت پکې ناروا دی.
- چې زده کوونکی د قضای ځای ته د ننوتلو او ترې بیرته د راوتلو دعاګانې ووایي.

ښوونکې ته:

- د قبلې د مقام وضاحت او د قرآن کریم احترام.
- په لارو او عامه تاسیساتو کې د ونو کینولو ته پاملرنه.
- د حاجت د رفع کولو پر مهال د عورت په پټولو ټینګار.
- د ګټور سیوري د معنا تشریح او دا چې ګټور سیوری هغه دی چې خلک ورلاندې کیني او د عادت له مخې پکې ناسته کوي.
- د خلکو د لارې څخه موخه بیانول، او دا هغه لارې ته ویل کیږي چې خلک پرې تیریږي.
- د خلکو په لارو کې د حاجت د رفع کولو د حرامولي حکمت؛ ځکه چې په دې سره ازاریږي، او د میوه لرونکې ونې لاندې؛ ځکه چې ونه ګنده کوي او د انسان زړه یې بیا نه مني.

پوښتنې

س١ لاندې جملې بشپړې کړئ:

أ- کله چې تشناب ته ننوځم، نو خپله ..... پښه مخکې کوم او د راوتلو پر مهال خپله ..... پښه مخکې کوم.

ب- تشناب ته د ننوتلو پر مهال : ..... وایم او له راوتلو وروسته ..... وایم.

س٢ هغه ځایونو ته د (×) نښه و کاروئ چې د حاجت رفع کول پکې حرام وي.

د خلکو لار ( )

وني ( )

دښته ( )

س٣ سم ځواب غوره کړه:

أ د قضای حاجت پر مهال د خلکو له سترګو ځان پناه کوم.

ځکه چې د عورت ښکاره کول حرام دي ( )

د جامو د پاکوالي لپاره ( )

تر څو نجاست پر جامو ونه لګېږي ( )

پوښتنې

ب د ننوتلو پر مهال کينه (چپه) پښه مخکې کوم:

کور ته ○	تشناب ته ○	جومات ته ○

س۴ د قضای حاجت پر مهال د قبلې لور ته مخ او شا نه ګرځوم.

لاملې

.....	.....	.....

س۵ ځيني هغه ځايونه شميرم چې قضای حاجت پکې روا دی:

۱-	۲-	۳- .....



دويم لوست (۴)

استنجا او استجمار (۵)

په انسان د الله تعالی لورينه ده چې د ده بدن يې په داسې غړوسمبال کړی چې زيان لرونکي مواد ترې راباسي لکه: تشې او ډکې متيازې، اوپرې يې واجب کړي چې له ځان څخه يې لرې کړي او د راوتلو ځای يې له دوو څخه په يوه طريقه پاک کړي چې هغه دوه طريقې عبارت دي له:

استنجاء

په پاکو اوبو سره د تشو او ډکو متيازو د راوتلو ځای وينځلو ته استنجا وايې؛ تر دې چې ناپاکي له منځه لاړه شي.

استجمار

په کاڼو يا کاغذي دستمالونو سره د تشو او ډکو متيازو د راوتلو ځايونه پاکول چې نجاست له منځه لاړ شي.

د لوست موخې:

- چې زده کوونکی د استنجاء او استجمار تر منځ په توپير پوه شي.
- چې زده کوونکی هغه شيان وپيژني چې اودس وچول پرې روا نه دي.
- چې زده کوونکی د اودس وچونې د صحت شرطونه وښودلی شي.
- چې زده کوونکی هر هغه څه ته درناوي وکړي چې د الله تعالی ذکر پکې شوی وي.


ښوونکې ته:

- زده کوونکو ته د تشناب د ننوتلو او بهرته راوتلو دعا وريادوي او هڅوي يې چې ويیلو ته يې پاملرنه وکړي.
- له دې حکمت څخه زده کوونکي خبرول چې ولې په هډوکو او خرشنو (غوشيانو) له اودس وچولو څخه منع راغلې ده؛ ځکه چې هډوکي د پيريانو او خرشنه د پيريانو د حيواناتو خواړه دي.
- زده کوونکي د هغو کاغذونو درناوي ته هڅول چې د الله تعالی يادونه پکې شوې وي لکه: کتابونه، مصحفونه، مجلې او دا چې له هر ډول سپکاوي څخه يې ډډه وشي.
- پر استنجا بايد ټينګار وشي کله چې د اودس وچولو له شرطونو څخه يو نه محقق کيږي.
- دا تشريح کول چې د اودس وچول او بيا استنجا کول تر ټولو غوره حالت دی.
- زده کوونکي هڅول چې د اودس وچولو او استنجاء لپاره خپل کين (چپ) لاس وکاروي.

استنجا او استجمار (۵)

هغه څيزونه چې اودس وچول پرې روا دي:

هر پاکوونکی، پاکيزه او مباح شی لکه: کاڼي او کاغذي دستمالونه.






هغه څېزونه چې اودس وچول پرې ناروا دي لکه:

۱ - هغه کاغذونه چې د الله تعالی یادونه پکې شوې وي. ۲ - هډوکي.
۳ - خواړه. ۴ - خرشنه (د حیواناتو خرشنه لکه د: اوښانو، میږو، غواګانو او داسې نورو)





استنجا او استجمار (۵)

د اودس وچونې د صحت شرطونه:

۱ هغه څه چې اودس پرې وچوي باید پاکوونکی، پاکیزه او اودس وچول پرې مباح وي.

۲ چې د پلیټی د راوتو ځای درې ځله سره پاک کړي، او که چیرته پاک نه شي له دریو ځلو څخه یې باید زیات پاک کړي.

۳ چې تشي او ډکې متیازې له خپل ځای څخه خپرې نه شي.





پوښتنې

س١ لاندې جملې بشپړې کړئ:

أ- استنجا عبارت دی له: .....

.....

ب - اودس وچونه عبارت دی له: .....

.....

س٢ هغه څیزونو ته د (×) نښه و کاروئ چې اودس ماتی پرې حرام وي.

هډوکي ○	کاني ○	خواړه ○	کاغذي دستمالونه ○	خرشنه (غوشیان) ○

س٣ د اودس وچونې شرطونه ووایه:

١-	٢-	٣- .....

س٤ یو ځوان له خپلې کورنۍ سره په چکر ووت، هغه د اودس ماتې پر مهال په اخبارونو اودس وچ کړ. نو د دې ځوان دا کړنه سمه ده که ناسمه؟ او ولې؟

.....

.....

پوښتنې

س۵ هغه څيزونه وښيه چې اودس وچول پرې روا دي.

.....

.....

س۶ په لاندې ځايونو کې (√) او (×) علامې وکاروئ:

- د تشو متيازو پسې دوه ځلې په کاغذي دستمال ځان وچوم.

- په هډوکو اودس وچول روا دي.

س۷ په لاندې ځايونو کې (√) او (×) علامې وکاروئ:

- تشناب ته د ننوتلو پر مهال وايم: .....
.....

- له تشناب څخه د راوتلو پر مهال وايم: .....
.....

-د استنجا او استجمار پر مهال خپل ..... لاس کاروم.


پوښتنې

س٨ تشاب ته ننوتې، خو کله چې دې حاجت رفع کړ متوجه شوې چې په تشناب کې اوبه نشته. نو څه به کوې؟


.....












نجاست لرې کول (٧)

له دريو شيانو څخه د تشو اوډکو متيازو نجاست لرې کول واجب دي:

١ ځان.



دليل يې د الله تعالى دا قول دى:(وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِينَ)
(او الله پښه پاك اوسېدونكي خوښوي).[التوبة: ١٠٨].

٢ کالي (جامې):

دليل يې د الله تعالى دا قول دى:(وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ)
(او خپلې جامې پاکې ساته).[المدثر: ٤].

٣ هغه ځای چې لمونځ پکې کيږي:

دليل يې د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا قول دى:« إنَّ هذه المساجِد لا تَصْلُح لِشَيْءٍ مِن هذا البَوْلِ ولا القَذَر».
"دا جوماتونه د دې ادرارو او ناپاکو څيزونو لپاره مناسب نه دي".(مسلم په (٢٨٥) شمېره روايت کړی).

د لوست موخې:

- زده کوونکی هغه څيزونه وښيي چې نجاست ترې لرې کيږي.
چې زده کوونکی د خپل ځان، کالیو او د لمانځه د ځای پاکوالي ته پاملرنه وکړي.

ښوونکې ته:
- پر دې ټينګار چې بايد د قضای حاجت پر مهال بيره ونه شي، او د ناپاکۍ د خپريدو په وړاندې احتياط وشي.
- د زده کونکو په زړونو کې د الله تعالى کورونو (جوماتونو) او هغو ځايونو ته احترام پيدا کول چې لمونځ پکې کيږي او يا هغه فرشونه چې لمونځ پرې کيږي.
- د دې خبرې وضاحت چې اسلام د پاکوالي دين دی

پوښتنې

س١ نجاست له دريو څيزونو څخه لرې کيږي، هغه کوم دي؟

١- ..... ٢- ..... ٣- .....

س٢ کله چې ستاسو په جامو نجاست پورې شي، څه کوئ؟

.....

.....

س٣ د (أ) د ستون جملې د (ب) د ستون له مناسبو جملو سره ونښلوئ:

د (أ) ستون	د (ب) ستون
ځای	د الله تعالی د دې قول پر بنیاد:(وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِينَ) (او الله ښه پاك اوسېدونكي خوښوي).
بدن	دليل يې د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا وينا ده: « إنَّ هذه المساجِد لا تَصْلُح لِشَيْءٍ مِن هذا البَوْلِ ولا القَذَر».”دا جوماتونه د دې متيازو او ناپاکو څيزونو لپاره مناسب نه دي”.
کالي (جامې)	د الله تعالی د دې قول پر بنیاد: (وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ) او خپلې جامې پاکې ساته.

پوښتنې

س۴ په ناپاکه ځای کې لمونځ کول څه حکم لري؟


. . . . . .

. . . . . .

س۵ سم ځواب غوره کړئ:

له خپلو کالیو څخه د نجاست د لرې کولو لپاره کاروم:

خاوره ○	اوبه ○	کانې ○







د اوداسه شرطونه (۹)

اودس له لاندې شرطونو پرته نه صحيح کيږي:



۱ نيت، چې ځای يې زړه دی او ويل يې بدعت دی

او دليل يې د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا وينا ده:
«إنَّما الأعمالُ بِالنِّيّات». «يعني د عملونو سمونتيا او ناسمونتيا په نيت پورې ترلې ده».



۲ چې اوبه پاکې او مباحې وي.



۳ د هر هغه شي لرې کول چې پوستکي ته د اوبو د رسيدلو مخنيوی کوي لکه: د نوکانو رنګ، سرينې، اوړه او داسې نور.

د لوست موخې:

- چې زده کوونکی د اوداسه د صحت شرطونه وشميري.
- چې زده کوونکی د نيت محل يعنې ځای وښيي.
- چې زده کوونکی د اوداسه د اوبو شرط وښيي.
- چې زده کوونکی له هر هغه څه نه ډډه وکړي چې پوستکي ته د اوبو د رسيدو مخنيوی کوي.

ښوونکې ته:

- دا بيانول چې د اودس او لمانځه لپاره په خوله نيت ويل بدعت دی او بايد چې ډډه ترې وشي، لکه ځينې چې وايي: (نَوَيْتُ أن أَتَوَضَّأَ لِصَلاةِ الفَجْرِ) يعنې نيت مې کړی چې د سهار د لمانځه لپاره اودس وکړم، يا دا چې ووايي: (نَوَيْتُ أن أُصَلِّي الفَجْرَ)، نيت مې کړی چې د سهار لمونځ وکړم.
- د پاکو اوبو د ډولونو لپاره سمندرونه، چينې او سيندونه د بېلګې په توګه ښودل.
- دې ته اشاره کول چې هر هغه شی بايد لرې شي چې پوستکي ته د اوبو د رسيدو مخنيوی کوي لکه: خټه، اوړه، موم او يا بل څه، او کومې چې نکريزې او داسې نور مواد دي نو هغه جسم نه لري چې پوستکي ته د اوبو د رسيدو مخنيوی وکړي.
- دا تشريح کول چې شرط د عبادت له ادا کولو څخه مخکې وي.
- د اودس فضيلت بيانول؛ رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:
" إنَّ أُمَّتي يُدْعَوْنَ يومَ القِيامَة غُرّاً محجَّلِينَ مِن آثارِ الوُضوءِ، فَمَن استَطاعَ مِنْكُم أن يُطِيلَ غُرَّتَه فَلْيَفْعَل". «زما امتيان به د قيامت په ورځ په داسې حال کې راوبلل شي چې د اوداسه له امله به يې اندامونه رڼا کوي، نو څوک چې له تاسو څخه کولی شي چې د اودس غړي له تاکلي ځای څخه زيات ووينځي نو دا کار دې وکړي»، دا حديث بخاري په (۱۳۶) شمېره روايت کړی دی، په حديث کې د : (غُرّاً) لفظ راغلی چې په اصل کې هغه سپينوالي ته ويل کيږي چې د آس په تندي کې وي، بيا د ښايست، شهرت او نيک نامۍ لپاره وکارول شو، او دلته ترې مراد : هغه رڼا ده چې د محمد صلى الله عليه وسلم د امتيانو په مخونو کې به وي، او د (مُحَجَّلِين) کلمه هم راغلې ده چې (تحجيل) په اصل کې هغه سپينوالي ته ويل کيږي چې د آس په دريو پښو کې وي او دلته ترې مراد هم روښنايي ده.
- د بدعت معنا بيانول، او دا چې بدعت هر هغه عبادت ته ويل کيږي چې خلکو له ځانه پيل کړی وي او په قرآن، حديث کې اصل ونه لري او راشدينو خلفاوو پرې هم عمل نه وي کړی.

پوښتنې

س١ لاندې جملې بشپړې کړئ:

أ- د اودس په شرطونو کې یو نیت دی او د نیت ځای ..... زړه دی.

ب- د هغو اوبو لپاره چې اودس پرې کیږي شرط دا دی چې باید .....
او .....وي.

ج- د هغو شیانو له جملې څخه چې پوستکي ته د اوبو د رسیدو مخه نیسي عبارت دي له
..... او ..... څخه.

س٢ شاعر ویلي:

زویه په پاکو اوبو اودس وکړه. ** د اودس اوبه دې د مخ روښنایي ده.

پورته بیت ولوله او لاندې پوښتنه ځواب کړه:

أ **په شعر کې د اودس د صحت لپاره یو شرط ذکر شوی چې هغه:**.....

ب **اودس پر مخ څه اثر لري؟**

.....

.....

پوښتنې

س۳ د ځواب لپاره مناسبه کلمه غوره کړئ (وروسته، مخکې):

شرط د عبادت له ادا کولو څخه ..... وي.

س۴ لاندې جملو ته (√) او یا (×) علامه وکاروه:

- اوړه پوستکي ته د اوبو د رسېدو مخه نیسي.

- شمه یا موم پوستکي ته د اوبو د رسېدو مخه نه نیسي.

س۵ مناسب ځواب غوره کړئ:

أ د اوداسه د اوبو لپاره شرط دا دی چې:

پاکې | رنې | خوږې وي

ب د اوداسه له شرطونو څخه:

د وخت داخلېدل | قبلې ته مخ کول | نیت

پنځم لوست (۱۰)

د اوداسه فرضونه (۱۱)

اودس لوی فضیلت لري، په دې سره الله تعالی ګناهونه له منځه وړي، موږ يې بايد زده کړو، فرضونه يې داسې پر ځای کړو لکه څنګه چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ثابت شوی دی.



د لوست موخې:

- چې زده کوونکی په سمه توګه عملي اودس وکړي.
- چې زده کوونکی د اودس واجب وښيي.

ښوونکې ته:

- دا تشریح کول چې په اوداسه کې د هر غړي یو ځل وینځل واجب دي، او له دې زیات سنت دي.
- دا تشریح کول چې الله جل جلاله پاکیزه خلک خوښوي.
- زده کوونکې پوهول چې اوبه ضایع نه کړي؛ ځکه چې دا یو نعمت دی او باید ساتنه یې وشي.
- دا تشریح کول چې درې ځلې د اندامونو وینځل او یو ځل د سر او غوږونو مسح کول سنت دي.
- د مضمضې، استنشاق او استنثار د معناګانو تشریح کول چې : خولې ته اوبو اچولو او خوځولو راخوځلو ته مضمضه، پوزې ته د تنفس په واسطه پورته اوبو کش کولو ته استنشاق او د تنفس په واسطه بیرته له پوزې اوبو راویستلو ته استنثار وایي.
- دا تشریح کول موالاة: له اوږد ځنډ پرته غړي یو د بل پسې وینځلو ته وایي، په داسې توګه چې طهارت په یو خت کې تر سره شي او د غړو وینځلو ترمنځ اوږد ځنډ ونه شي.
- د زده کوونکو په وړاندې په عملي توګه اودس کول، په داسې توګه چې ټول زده کوونکي وکولای شي ښوونکی وګوري.
- ټولو زده کوونکو ته دنده ورکول چې عملي اودس وکړي، تر څو ډاډ ترلاسه شي چې اودس یې زده کړی، او ښوونکي ته پدې کار سره د لوی اجر زیری ورکول کیږي چې زده کوونکو ته د اودس او لمانځه طریقه ورزده کوي، ځکه چا چې بل ته یو څه وروښودل نو هغه ته پرې د عمل کوونکي په .

د اوداسه فرضونه (۱۱)

اودس شپږ فرضونه لري چې په لاندې ډول دي:









۱ هغه څه چې اودس پرې وچوي باید پاکوونکی، پاکیزه او اودس وچول پرې مباح وي.

۲ لاسونه د څنګلو سره وینځل.

مخ وینځل د تندې له پاس برخې د وېښتانو له شنه کېدو څخه تر زنې د لاندې برخې پورې ، او د غوږونو له یوې نرمې څخه بلې نرمې پورې

۳ د سر مسح کول، سره له دواړو غوږونو.

۴ د ښنګرو په شمول د پښو وینځل.

د اوداسه فرضونه (۱۱)

اودس شپږ فرضونه لري چې په لاندې ډول دي:

۵ د دې فرضونو تر منځ ترتیب مراعتول.

۶ د غړو وینځلو تر منځ پرلپسې والی.

*څوک چې له دې واجباتو څخه یو پریږدي: اودس یې نه صحیح کیږي.

د اودس واجب: (بسم الله) ویل دي.



پوښتنې

س١ لاندې جملې بشپړې کړئ:

١ - اودس لوی فضیلت لري، پدې سره الله جل جلاله .....
او ..... پورته کوي.

٢ - د هغه چا حکم چې د اودس له فرضونو څخه یو فرض پریږدي دا دی چې
.....

٣ - اودس یو واجب لري چې هغه ..... دی.

س٢ د اوداسه طریقې ته په لیدو لاندې جملې په شمیرو ورکولو سره ترتیب کړئ:

سر له دواړو غوږونو سره مسح کول.	د خولې او پوزې په ځډون مخ وینځل.
د خنګلو په شمول دواړه مټې وینځل.	د ښنګرو په شمول دواړه پښې وینځل.

پوښتنې

س٣ جملې سره ونښلوئ چې مناسب ځواب ترې جوړ شي.

د اوداسه شرطونه.	په اوداسه کې دننه وي.
د اوداسه فرضونه.	د اودس له پیلولو څخه مخکې وي.

س٤ د صحیح ځواب مخې ته نښه کېږده:

له زید نه هېر شول چې په اوداسه کې سر مسح کړي او لمونځ یې وکړ، نو پر ده واجب دي چې:


اودس راوګرځوي.		اودس او لمونځ دواړه راوګرځوي.	
لمونځ راوګرځوي.			

* تل په یاد ولرئ چې اوبه ضایع نه کړئ.



تیمم

د تیمم طریقه:



۱ چې په زړه کې نیت وکړي.

۲ (بسم الله) ووایي.



۳ چې یو ځل په دواړو لاسونو خاوره/ځمکه ووهي، په داسې حال کې چې ګوتې یې خلاصې وي.



۴ په ورغوو سره خپل مخ مسح کړي.

۵ چې د ښي لاس په ورغوي د چپ لاس پنجه (شا) او د چپ لاس په ورغوي د ښي لاس څټ مسح کړي.

ښوونکې ته:

- د شریعت د اسانتیا تشریح کول چې تیمم یې روا کړی دی.
- د اوبو د نه شتون او یا یې د ضرر له امله د نه کارولو لپاره مثالونه وړاندې کول.
-په عملي توګه د تیمم طریقه تشریح کول.
- ټولو زده کوونکو ته دنده ورکول چې عملي تیمم وکړي تر څو یې له زده کولو ډاډ تر لاسه شي.

تيمم

هغه حالتونه چې تيمم پکې د اوبو ځای نيسي:



١ کله چې اوبه ونه مومي.

٢ کله چې د اوبو په کارولو سره د ضرر ويره وي.

دليل يې د الله تعالى دا قول دی:(فَلَمْ تَجِدُوا مَاءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا)
(بيا تاسو اوبه ونه مومئ، نو د ځمکې پاک مخ (خاورې وغيره) ته اراده وکړئ).النساء سورت: ۴۳.

د تيمم باطلوونکي:

١ تيمم د اودس په ماتوونکو سره باطليږي.

٢ کله چې اوبه پيدا شي، که څه هم دی په لمانځه کې وي.

پوښتنې

س ۱ د مناسبو شمېرو په کارولو سره تیمم ترتیب کړئ:

بسم الله ووایي

او په خپلو ورغوو د لاسونو شاګانې مسح کړي

لاسونه په مخ راکش کړي

په زړه کې نیت وکړي.

خاورو ته په لاسونو یوه ضرب ورکړي.

س ۲ لاندې تش ځایونه په مناسبو کلمو سره ډک کړئ:

باطلوونکي	تیمم	نه شتون	مسح

د اوبو د ..... په صورت کې تیمم روا کیږي.

کله چې مسلمان د اوبو کارولو له امله له ضرر څخه ویره درلوده نو هغه ته جایز دي چې .....

تیمم د اودس ..... باطلیږي.

پوښتنې

س٣ يو سړی له مکې مکرمې ځخه مدينې منورې ته روان شو، په لاره کې پرې د سهار د لمانځه وخت په داسې حال کې راغی چې اوبه يې ونه موندلې، ده ويره درلوده چې د لمانځه وخت به تړې لاړ شي. نو په دې حالت کې ورته څه کول په کار دي؟

.....

.....

س٤ مناسب ځواب غوره کړئ:

أ تيمم په :

خوراک | ځښاک | خوب سره باطليږي.

ب تيمم هغه وخت روا کيږي چې:

اوبه نه وي. | سخته ګرمي وي. | خوب سره سخت باران وي.

اووم لوست(١٣)

د لمانځه وختونه (١٤)

د وخت له داخليدو څخه مخکې لمونځ روا نه دی، لکه څنګه چې الله تعالى فرمايلي:

﴿إِنَّ الصَّلَاةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَابًا مَوْقُوتًا﴾

(بېشکه لمونځ له شروع نه په مومنانو باندې په (معلومو) وختونو کې فرض کړی شوی دی) [النِّساء: ١٠٣].



د لوست موخې:

- چې زده کوونکی د فرضي لمونځونو وختونه وښيي.
- لمونځ په خپلو ټاکلو وختونو کې وکړي.
- زده کوونکی د لمانځه د وروسته والي څخه ډډه وکړي.

ښوونکې ته:

- په زده کوونکو په خپل وخت کې د لمانځه د ادا کولوو ټینګار او د لمانځه فضیلت او د هغه چا د سزا بیان چې لمونځ (له ټاکلې وخت څخه) وروسته کوي.
- د لمانځه د وروسته کولو نه ډډه کول او دا چې وروسته کول يې د منافقانو صفت دی، الله تعالى فرمايلي: (إِنَّ الْمُنَافِقِينَ يُخَادِعُونَ اللَّهَ وَهُوَ خَادِعُهُمْ وَإِذَا قَامُوا إِلَى الصَّلَاةِ قَامُوا كُسَالَىٰ يُرَاءُونَ النَّاسَ وَلَا يَذْكُرُونَ اللَّهَ إِلَّا قَلِيلًا) [النِّساء: ١٤٢]. (دا منافقان له الله سره د غولونې کار کوي په داسې حال کې چې په حقیقت کې الله هغوی په غولېدنه کې غورځولي دي، (نو) سست (کاهلان) پاڅېږي، خلقو ته ځانونه ښيي او الله نه يادوي مګر ډېر لږ).
- د : الزوال، ظل كل شئ مثله او (الشفق الاحمر) معنا بيانول.

د لمانځه وختونه (١٤)

د پنځه وخته لمونځونو وختونه:

لمونځ	وخت يې:
سهار	د دويم سهار (صبح صادق) له راختلو څخه د لمر تر راختلو پورې.
ماسپښين	د لمر زوال، تر دې چې د هر شي سيوری د هغه برابر شي.
مازديګر	د ماسپښين د وخت له وتلو څخه تر هغه وخته پورې چې د هر شي سيوری د هغه دوه برابره شي.
مابنام	د لمر له ډوبيدو څخه په اسمان کې د سورالي تر پټيدو پورې.
ماخوستن	د مابنامني سورواليي له ورکېدو څخه تر نيمې شپې پورې دی.

پوښتنې

س١ د (أ) د ستون جملې د (ب) د ستون له مناسبو جملو سره ونښلوئ:

د (أ) ستون	د (ب) ستون
سهار	د مانښامنې سوروالي له ورکېدو څخه ترنيمې شپې پورې.
ماسپښين	د لمر له زوال څخه، تر دې چې د هرشي سيوری د هغه برابرشي.
مازديګر	د دويم سهار (صبح صادق) له راختلو څخه د لمر راختو پورې.
مانښام	د ماسپښين د وخت له وتلو څخه تر هغه وخته پورې چې د هرشي سيوری د هغه دوه برابره شي.
ماخوستن	د مانښامنې سوروالي له ورکېدو څخه ترنيمې شپې پورې دی.

س٢ د وخت له داخليدو څخه مخکې د لمانځه د ادا کولو حکم څه شی دی؟

.....

.....

اتم لوست(١٥)

د لمانځه شرطونه(١٦)

لمونځ د اسلام دويم رکن دی او د ادا کولو لپاره شرطونه لري چې بايد پوره شي، هغه شرطونه دا دي:

١ **اسلام:** د کافر لمونځ تر هغه وخته نه قبليږي چې مسلمان شوی نه وي.

٢ **عقل:** په ليوني تر هغه وخته پورې لمونځ نشته چې هوښيار شوی نه وي.

٣ **تميز (په ښه او بد پوهېدل):** کوچني ته هغه مهال په لمانځه امر کيږي چې د تميز عمر ته ورسيږي او هغه اووه کاله دي.

٤ **د عورت پټول:** د سړي عورت د نوم له غوټې څخه تر زنګنونو پورې دی او د ښځې ټول بدن عورت دی؛ پرته له مخ او دواړو لاسونو څخه يوازې په لمانځه کې.

د لوست موخې:

- چې زده کوونکی د لمانځه شرطونه ووايي.
- د سړي او ښځې د عورت حدود وښيي.
- چې زده کوونکی د مسلمانانو د قبلې مخه وپېژني.

ښوونکې ته:

- د زده کوونکو هڅونه چې په خپل وخت لمونځ وکړي.
- په ښځې ټينګار چې په لمانځه او هر وخت کې شرعي لباس مراعت کړي.
- دا تشريح کول چې د لمانځه پرېښودونکی کافر دی، نو کله چې مړ شي غسل او کفن نه ورکول کيږي، جنازه پرې نه کيږي، د بخښنې دعا ورته نه غوښتل کيږي او د مسلمانانو په هديرو کې نه خښيږي او په ژوندون ورته مکې مکرمې ته تلل روا نه دي، او مور ته يې حلاله روا نه ده او په اخرت کې به د تل لپاره په دوزخ کې وي.

د لمانځه شرطونه(١٦)

لمونځ د اسلام دويم رکن دی او د ادا کولو لپاره شرطونه لري چې بايد پوره شي، هغه شرطونه دا دي:


٥ **د عورت پټول:** د سړي عورت د نوم له غوټۍ څخه تر زنګنونو پورې دی او د ښځې ټول بدن عورت دی؛ پرته له مخ او دواړو لاسونو څخه يوازې په لمانځه کې.

٦ **د نجاست لرې کول:** له بدن، کالیو او هغه ځای څخه چې لمونځ پکې کیږي.

٧ **د وخت داخلیدل:** د هر لمانځه لپاره ټاکلی وخت دی چې مخکې ترې لمونځ کول نه صحیح کیږي.

٨ **قبلې ته مخ کول:** چې هغه په مکه مکرمه کې کعبه شریفه ده.

٩ **نیت:** چې ځای يې زړه دی، او ویل يې بدعت دی.



پوښتنې

س١ د (أ) د ستون جملې د (ب) د ستون له مناسبو جملو سره ونښلوئ:

کلمه	ضد يې
نجاست	
اسلام	
هوښيار	

س٢ لاندې تش ځايونه په مناسبو کلمو ډک کړئ:

أ - د کافر لمونځ تر هغه پورې نه قبليږي چې .....

ج- د لمانځه له ادا کولو مخکې شرط دا دی چې له: .....
او ..... او ..... نجاست لرې کړای شي.

د- په لمانځه کې دسړي عورت د ..... او د ښځې ټول
بدن عورت دی پرته له .....

پوښتنې

س ۳ سم ځواب غوره کړئ:

د تمیز (هوښیاری عمر) :

۹ کاله	۶ کاله	۷ کاله دی



د لمانځه ارکان (۱۹)

دا په څوارلس ارکانو بنا دی چې ټول باید پرځای شي
اوله عاجزی سره لمونځ وشي، هغه ارکان دا دي:

۱ په فرض لمانځه کې ودریدل د هغه چا لپاره چې د ودریدلو توان ولري.

۲ تحریمه تکبیر.



۳ فاتحه لوستل.



د لوست موخې:

- چې زده کوونکي په عملي توګه صحیح لمونځ وکړی شي.
- چې زده کوونکی په لمانځه کې د سجدې اووه اعضاء وپېژني.
- چې زده کوونکی فاتحه په سمه توګه ولولي.
- د هغه چا په حکم پوه شي چې د لمانځه له رکنونو څخه یو پریږدي.
- د لمانځه ارکان وپیژني.

ښوونکې ته:
- زده کوونکو ته په لمانځه کې د سکون او درنګ معنا تشریح کول چې پر ځای کول یې واجب دي، لکه څرنګه چې د ناسم لمونځ کوونکي په حدیث کې یې یادونه شوې.
- په ساده ډول تشریح کوي چې د سهوې سجده څه معنی لري.
- له اوو غړو (اندامونو) څخه څه مراد دي، او په عملي ډول یې کول.
- د رکوع او سجدې سمه طریقه بیانول.
- زده کوونکو ته د لمانځه د شرطونو او د لمانځه د ارکانو تر منځ توپیر بیانول.

د لمانځه ارکان (۱۹)

دا په څوارلس ارکانو بنا دی چې ټول باید پرځای شي
اوله عاجزی سره لمونځ وشي، هغه ارکان دا دي:

۴ رکوع.



۵ له رکوع څخه پورته کېدل.



۶ په اوو اندامونو سجده کول.



۷ له سجدې څخه پورته کېدل.



۸ د دوو سجدو تر منځ ناسته.

۹ د وروستي تشهد لپاره کېناستل.



۱۰ په وروستۍ ناسته کې تشهد لوستل.

د لمانځه ارکان(۱۹)

۱۱ په وروستۍ ناسته کې په رسول الله صلی الله علیه وسلم درود ویل.



۱۲ سلام ګرځول.

۱۳ په ټولو ارکانو کې سکون مراعتول.

۱۴ په ټولو ارکانو کې ترتیب مراعتول.

د هغه چا د لمانځه حکم چې له دې ارکانو څخه یو پریږدي.

أ- کله چې لمونځ کوونکی په قصدي توګه د لمانځه له ارکانو څخه یو رکن پریږدي لمونځ باطل شو.

ب - کله چې لمونځ کوونکی د لمانځه له ارکانو څخه یو رکن په سهوي سره پریږدي، نو بیرته رکن پر ځای کوي، ورپسې پاتې لمونځ کوي او د سهوي لپاره سجده کوي.

پوښتنې

س١ د لمانځه ارکان څو دي؟

.....

.....

س٢ په خالي ځایونو کې د مناسبو شمېرو په لیکلو سره شمېرې ترتیب کړئ:

- وروستی تشهد ( )
- تحریمه تکبیر ( )
- د فاتحې لوستل ( )
- له رکوع څخه پورته کېدل. ( )
- د توان سره سم ودریدل ( )

س٣ الله تعالی فرمایلي:(وَقُومُوا لِلَّهِ قَانِتِينَ) (او الله ته ودریږئ اطاعت کوونکي) [البقرة: ٢٣٨].په آیت کریمه کې د لمانځه یو رکن راغلی دی، هغه وښیيه.

.....

.....

س٤ یو زده کوونکي لمونځ وکړ، خو په دویم رکعت کې یې رکوع هیره شوه. نو څه کول پرې واجب دي؟

.....

.....

پوښتنې

س۵ لاندې تش ځایونه په لاندې مناسبو کلمو سره ډک کړئ:

وروسته	مخکې	پر مهال

- شرط د لمانځه په ..... کې وي.

رکن د لمانځه په ..... کې وي.

س۶ سم ځواب غوره کړئ:

د لمانځه له ارکانو څخه:

- د وخت داخلېدل ○
- قبلې ته مخ کول ○
- فاتحه لوستل ○



لسم لوست (۲۰)

د لمانځه واجبات (۲۱)

د لمانځه واجبات اته دي او په لاندې ډول دي:

۱ له تحريمه تکبير پرته نور ټول تکبيرونه.

۲ په رکوع کې يو ځل د (سبحان ربي العظيم) ويل.

۳ د امام او منفرد لپاره (سَمِعَ اللهُ لِمَن حَمِدَه) ويل.



۴ د امام، مقتدي او منفرد لپاره (ربنا ولك الحمد) ويل.



۵ په سجده کې (سبحان ربي الأعلى) ويل.




د لوست موخې:

- چې زده کوونکی د لمانځه واجبات وښيي.
- دا چې زده کوونکی د ارکانو او واجباتو سره لمونځ په سمه توګه عملي کړی شي.
- چې زده کوونکی د هغه چا د لمانځه حکم بيان کړی شي چې د لمانځه يو واجب پريږدي.

ښوونکې ته:
- د رکن او واجب تر منځ توپير بيانول.
- د امام او منفرد معنا څه ده.



٦ د دوو سجدو په مینځ کې (ربِّ اغْفِرْ لي) ویيل.



٧ د لومړي تشهد لپاره کښناستل.

٨ د تشهد لوستل .

د هغه چا حکم چې له دې واجباتو څخه یو پریږدي.

أ کله چې لمونځ کوونکی د لمانځه له واجباتو څخه یو واجب په قصدي توګه پریږدي لمونځ يې باطل شو.

ب کله چې لمونځ کوونکی د لمانځه له واجباتو څخه یو واجب په سهوه او یا ناپوهۍ پریږدي، نو د سهوې لپاره سجده کوي.

پوښتنې

س١ د لمانځه واجبات وښيه.

.....

.....

س٢ مناسبه کلمه وټاکه او په خالي ځای کې يې وليکه:

ارکان **واجبات**

د فاتحې لوستل د لمانځه له ..... څخه ده.

سُبْحانَ ربي العَظِيم ويل د لمانځه له ..... څخه دی.

لومړی تشهد د لمانځه له ..... څخه دی.

وروستی تشهد د لمانځه له ..... څخه دی.

س٣ د سم ځواب لاندې کرښه کش کړه.

أ زه په رکوع کې وايم:

لا إله إلّا الله **سُبْحان ربي الأَعْلى** **سُبْحانَ ربي العَظِيم**

پوښتنې

ب د دوو سجدو په مینځ کې وایم:

ربِّ اغْفِرْلي | سَمِعَ اللهُ لِمَن حَمِدَه | ربَّنا ولك الحمد

ج د: رَبَّنا ولَك الحَمْد ویيل:

د امام، مقتدي او منفرد لپاره | د امام او منفرد لپاره | یوازې د امام لپاره

س۴ د هغه چا حکم څه دی چې په قصدي توګه د لومړي تشهد لوستل پریږدي؟

.....

.....

س۵ زده کوونکي لمونځ وکړ او د دوو سجدو تر منځ یې (رَبِّ اغْفِرْ لي) ویل پریښودل، نو د لمانځه حکم یې څه دی؟

.....

.....

